۹

# قضاء

شرعي

قضائي

حقوقي



د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

دریم کال، نهمه ګڼه (شوال المکرم، ذوالقعدة الحرام او ذوالحجة الحرام) ۱۴۴٦ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي
د افغانستان اسلامي امارت ستري
محکمې درې میاشتنۍ مجله

درېيم کال، نهمه ګڼه

( شوال المکرم،ذوالقعدة الحرام او ذوالحجة الحرام ) ۱٤٤٦ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه خپروونکی:د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

## کتنپلاوی

شیخ محمد قاسم «راسخ»

مفتي عبدالرشید «سعید»

مفتي عبدالرحمن«عزیزي»

مولوي حمدالله«محمدي»

حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان

د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳٦۱_۲۳۰۲۲٦۳

برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com

ویب سایټ:www.supreme court.gov.af

# د مطالبو لړلیک


| | |
|---|---|
| سرمقاله<br>اداره | ۱ |
| د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته<br>مولوي عبدالرحیم «راشد حقاني» | ۲ |
| په اسلام کې د قضاء تعریف، تاریخ، ارزښت او د قاضي آداب<br>مولوي بایزید «یون» | ۱۹ |
| اسلامـــــــــي شریعت د عدالت تضمینوونکی دی<br>مولوي عبدالکریم «شعیب» | ۲۱ |
| غلا او مسایل یې<br>مولوي عبدالکریم «الکریمي» | ۲۴ |
| د ستـــرې مــــحکمې د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه<br>اداره | ۳۱ |
| گزارش اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه<br>اداره | ۳۴ |

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

# د عادل او توانا څښتن په سپېڅلي نامه

قضاء د هر اسلامي نظام هغه مهمه برخه ده چې د ټولنې د وګړو ترمنځ عدالت، نظم او خلکو د حقونو ساتنه پرې کېږي. که د قضاء بنسټونه قوي، خدمات یې شفاف او له هر ډول نفوذ څخه پاک وي؛ نو په دغه مهم ارګان د ملت باور زیاتېږي او د دغه باور په نتیجه کې د اسلامي نظام بقاء او ټولنیز ثبات رامنځته کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې هم دغه مهم مسؤولیت ته په کتو د هیواد محاکم داسې جوړ کړي چې قضات صاحبان محکمې ته د راجع شوو دوسیو په اړه له هر ډول نفوذ پرته په ډېر جرئت د اسلامي ارشاداتو او د اسلامي امارت د محاکمو د اصولو په رڼا کې پرېکړې وکړي؛ په خپلو عادلانه او منصفانه پرېکړو سره د مظلوم لاس نیوی وکړي او ظالم ته د هغه د ظلم سزا ورکړي.

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب (حفظه‌الله) هم تل د محاکمو مسؤولینو ته هدایت کوي چې د قضاء دروند مسؤولیت په ترسره کولو کې به مادیات په پام کې نه نیسي؛ بلکې دغه پاکه دنده به د الله تعالی د رضاء او افغان ولس د خدمت په موخه ترسره کوي؛ ځکه که د محاکمو مسؤولین او منسوبین خپلې ورسپارل شوې چارې د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې، د الله تعالی د رضاء لپاره په بشپړ صداقت او اخلاص ترسره کړي، د خلکو ترمنځ به انصاف او عدالت رامنځته شي، د مظلوم له حق به دفاع وشي او د ظلم مخه به ونیول شي، چې په اصل کې همدا د اسلامي امارت د قضائیه ارګان مهمه موخه ده.

له نېکه مرغه چې د اسلامي امارت ستره محکمه په محاکمو کې د متدینو، مخلصو او د قضاء او افتاء برخو کې د مسلکي علماء کرامو د جذب پر مټ توانېدلې چې دې موخې ته ورسېږي، له هر ډول تبعیض پرته د هېوادوالو دوسیو ته د اسلامي احکامو په رڼا کې رسېدنه وکړي، حق حقدار ته وسپاري او بالآخره د مدعي او مدعي علیه ترمنځ عدالت تأمین کړي.

سترې محکمې له ملت سره د خپلو شفافو او پر وخت خدماتو د شریکولو، عامه پوهاوي او د هېوادوالو او سترې محکمې ترمنځ د اړیکې د ساتنې په موخه په خپل تشکیل کې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست جوړ کړی دی، ترڅو د هېوادوالو د ډاډ او پر محاکمو د هېوادوالو د باور د ساتنې په موخه په دوامداره توګه، په چاپي، برېښنايي او غږیزه بڼه نشرات وکړي، د دغه ریاست د چاپي خپرونو یوه برخه (قضاء مجله) دادی تاسو قدرمنو لوستونکو لاس کې ده.

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست په خپله دغه چاپي خپرونه کې د محاکمو د قضائي غړو، علماء کرامو او تکړه لیکوالانو د قضائي، حقوقي او شرعي موضوعاتو اړوند لیکنې، محاکمو د یوې ربعې، شپږو میاشتو او یا یو کال قضائي، اداري او امنیتي اجراآتو خلاصه راپور، د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه او دې ته ورته نور ګټور مطالب د تحریر پلاوي تر کتنې او تائید وروسته چاپ او تر تاسو رسوي.

د قضاء مجلې په دې ګڼه کې د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته «د راشده خلافت په دوره کې قضاء»، په اسلام کې د قضاء تعریف، تاریخ، ارزښت او د قاضي آداب، اسلامي شریعت د عدالت تضمینوونکی دی، غلا او مسایل یې تر عنوانونو لاندې علمي لیکنې او مقالې، د حقوقو له عمومي رئیس محترم الحاج مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحفاظ) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه او د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د قضائي، اداري او امنیتي اجراآتو لنډ راپور شامل دی.

له تاسو قدرمنو لوستونکو مو هیله داده چې د قضاء مجلې تر مطالعې وروسته دغه مجله په محفوظ او خوندي ځای کې وساتئ؛ ځکه مجله کې د قرآنکریم مبارک آیاتونه او د اسلام د ستر لارښوود نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) احادیث موجود دي.

په درنښت

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## د راشده خلافت په دوره کې قضاء

لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم «حقاني»[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد حقاني»[2]

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**نهمه برخه**

پېژندنه: ابو حفص، عمر د خطاب زوی دی، هغه د نفیل، هغه د عبدالعزی، هغه د رباح، هغه د عبدالله، هغه د قرط، هغه د رزاح، هغه د عدي، هغه د کعب، هغه د لؤی او هغه د غالب زوی دی.

له ده سره د ابوبکر ﷺ د وینا په اساس د هجرت په دیارلسم( ۱۳ ) کال د جمادی الآخره میاشت کې بیعت وشو، چې د خلافت موده یې ۱۰ کاله، ٦ میاشتې او ۴ ورځې وه او د ٦۳ کلنۍ په عمر، د هجرت په ۲۳ کال، د ذو الحجې میاشتې څخه ۴ ورځې مخکې د چهارشنبې په ورځ شهید کړل شو.

**په فاروق سره دده نومول:**

په تاریخ المدینه کې ابن شبه د ابو عمر او ذکوان څخه روایت نقل کړی، وایي: ما عائشې (رضي الله عنها) ته وویل: چا عمر ﷺ په فاروق ونوماوه؟ هغې وویل: نبي ﷺ او د ایوب بن موسی څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وویل: بې شکه الله حق د عمر په خوله او زړه ګرځولي دي او دی فاروق یعنې الله تعالی په ده سره د حق او باطل ترمنځ جلاوالی راوست. ( تاریخ المدینة لابن شبة:۲/٦٦۲)

**په امیرالمؤمنین سره یې نومول:**

د مسلمانانو مشرانو کې عمر ﷺ لومړنی امیر دی، چې په امیر المؤمنین سره نومول شوی، په تاریخ المدینه کې ابن شبه د عبدالعزیز بن عمران، هغه د خپل پلار او هغه د خپل نیکه څخه روایت کړی، چې وایي: یوه ورځ عمر ﷺ کښېناست، نو ویې ویل: په الله قسم هېڅ نه پوهېږو، چې څه وایو، ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ ځای ناستی( خلیفه) و، نو آیا بل نوم شته؟ حاضرو کسانو وویل: ( هو) امیر، ده وویل: نو ټول به امیر بلل کېږو، نو مغیره بن شعبه وویل: موږ مؤمنان یو او ته زموږ امیر یې، نو ته امیرالمؤمنین شوې، نو عمر ﷺ وویل: زه امیر المؤمنین یم.

**د قضائي واک او خپلواکۍ جلا کول:**

کله چې اسلام خپور شو او د عمر ﷺ په دوره کې د دولت ساحې پراخې شوې، د خلیفه مصروفیتونه زیات شول او په ښارونو کې د والیانو کارونه وغځېدل، ترڅنګ یې لانجې او شخړې زیاتې شوې، نو عمر ﷺ پرېکړه وکړه، چې قضائي واک خپلواکه کړي، تر څو والي د خپل ولایت د چارو سمبالښت ته فارغه شي او په اسلامي ښارونو کې

---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

يې قاضيان وټاکل، لکه: کوفې ته يې شريح، شام ته يې عباده بن صامت(چې د دوولسو استازو څخه يو دی هم و) او د بصرې د قضاء لپاره يې کعب بن سور د يو عجيب خبر سره ولېږی، چې هغه خبر دا دی: کعب د عمر ﷺ سره ناست و، نو يوه ښځه راغله او ويې ويل: ما له خپل خاوند څخه بل هېڅوک ښه او غوره نه دی ليدلی؛ ځکه هغه شپه په تهجدو او ورځ په روژې تېروي، نو عمر ﷺ هغې لپاره بخښنه وغوښته او ويې ويل: ستا په شان يو څوک ډېر ښه دی، نو هغه ښځه هم وشرمېدله او بېرته ولاړه، نو کعب وويل: اې اميرالمؤمنينه! دغه ښځه خو د خپل مېړه څخه په شکايت راغلې وه!

عمر ﷺ وويل: آيا ددې دغه هدف و؟ کعب وويل: هو، نو عمر وويل: چې ماته بېرته ښځه راولئ، نو ښځه ورته راوستل شوه، ده ورته وويل: په حقه وينا کولو سره هېڅ باک مه کوه او دی( کعب) دا فکر کوي، چې ته د مېړه څخه په شکايت راغلې يې؟ هغې وويل: هو، ځکه ځوانه ښځه يم، نو زه هغه څه غوړام چې ښځې يې غواړي، نو خاوند ته يې څوک ور ولېږل او کعب ته يې وويل: د دوی دوو ترمنځ پرېکړه وکړه، هغه وويل: زه ددې لپاره په څلورو ورځو کې د يوې ورځې پرېکړه کوم؛ ځکه کېدای شي ددې خاوند څلور ښځې ولري او که چېرې بېله دې څخه يې بل څوک نه درلودل، نو زه دده لپاره د درېيو ورځو پرېکړه کوم چې عبادت پکښې وکړي او ددې لپاره يوه ورځ ده، نو عمر ﷺ وويل: په الله قسم، ستا لومړی نظر ماته د وروستي په پرتله د حيرانتيا وړ نه دی، ته د بصرې قاضي شوې، نور ولاړ شه. ( تاريخ قضاء الأندلس،ص:۴۱)

نو عمر ﷺ لومړی کس و، چې ولاياتو کې يې خپلواک قاضيان وټاکل، د اميرانو او واليانو څخه يې خپلواکه کړل او هغوی ته يې يوازې قضائي چارې وسپارلې، همېشه يې قاضيانو ته ليکونه لېږل او د هغو پوښتنه به يې کوله او له هغوی يې غوښتنه کړې وه چې قضائي چارو کې دې

ده ته مراجعه وکړي او والي به هېڅ د دوی په کارونو کې مداخله نه کوي.

**د عمر ﷺ په دوره کې د قاضيانو ټاکل:**

ځينې وختونه به عمر ﷺ د ښار له واليانو څخه د دوی ټاکنه کې غوښتنه کوله او هغوی ته يې د ښه کس په انتخاب کې واک ورکاوه، چې د همدې جملې څخه هغه ليکونه دي چې عمر ﷺ معاذ او ابو عبيده ته شام ته ولېږل: نېک او تاسو ته قبول کسان وګورئ، بيا هغوی په قضاء باندې وګمارئ، هغوی ته روزي(تنخوا) ورکړئ او د الله تعالی له مالونو څخه ډېر ورکړئ.( الکافي في فقه الامام أحمد:۲۲۲/۴)

عمر ﷺ ابو موسی ته ليکلي: د قضاء منصب د مال او نسب څښتن څخه پرته بل چاته مه ورکوه؛ ځکه مالداره سړي د خلکو مالونو ته يې رغبت نه وي او د نسب والا سړی بيا د خلکو منځ کې د بدو پايلو څخه نه وېرېږي. ( مجموعة الوثائق السياسة للعهد النبوي والخلافة الراشدة، ص: ۴۳۷)

ځينې وختونه به عمر ﷺ د والي څخه د يو معلوم شخص ټاکل کېدل غوښتل، لکه څرنګه چې يې د مصر والي عمرو بن العاص ﷺته ليک ولېږه، چې کعب بن يسار بن ضنه د مصر قاضي کړي او د قاضي قيس بن ابي العاص د مړينې وروسته چې ده خپله ټاکلی و او عمرو ﷺ ته يې ده ته د قضاء سپارلو په موخه ليک لېږلی وو.( أخبار القضاة:۲۲۰/۳)

**د قاضي په ټاکلو کې سختي کول:**

عمر ﷺ به د قاضي په ټاکلو کې سختي کوله او دا يې ويل: داسې امير نشته چې يو امير ته امر وکړي او له قاضي څخه دده د خوښې مطابق پرېکړه وغواړي، مګر پر ده د هغه د ګناه نيمه برخه شته او که چېرې يې امر او يا د پرېکړې غوښتنه د مسلمانانو د مصلحت لپاره وه، نو څومره چې يې د الله تعالی اطاعت کړی دی، هغه کې ورسره شريک دی او که هغه نافرماني وکړه، نو هېڅ

وربانـدې نشـته. ( تاريخ القضـاء لابن عرنـوس، ص:١٦)

عمـر ﷺ د فاسق او فاجر سړي د ټاکلو څخـه پـه کلکـه پرهېـز کاوه او پـه دې اړه یـې ویـلي: څـوک چـې د چـا پـه فجـور خبر وي او بیـا هـم دغـه فاجـر سـړی وټاکـي؛ نـو دی هـم د هغـه پـه شـان دی. (رواه ابـن کثیـر فـي مسـند الفـاروق:۵۳۷/۲)

**د عمر ﷺ په دوره کې د قاضیانو تنخوا (معاش):**

عمـر ﷺ لومړنـی څـوک دی، چې په اسلام کې یې دفترونه جوړ کـړل، سوداګریز نظم یې برابر کړ او د بیت المال څخـه یـې قاضیانـو تـه تنخوا ترتیـب کـړه، چـې لـه دې وړانـدې پـه دې طریقـه نـه وه؛ ځکـه پـه نبـوي او د ابوبکر ﷺ پـه دورو کـې قضـاء لـه ولایـت څخـه جلا نـه وه.

د قاضیانـو او والیانـو تنخـوا بـه د دوی د اړتیا پـه اندازه وه، قـاضي سليمان بـن ربیعـه الباهـلي ته په میاشت کې عمر ﷺ پنځـه زره درهمـه ټـاکلي وو او شریح تـه یـې پـه هـره میاشـت کـې سـل درهمـه ورکـول او عمـر ﷺ پـه قاضیانـو بانـدې د پراخـۍ راوسـتلو ترغیـب تـل ورکاوه، لکـه څرنګـه چـې وړانـدې معـاذ او ابو عبیـده (رضي الله عنهـما) ته دده پـه لیـکل شـوي لیک کـې تېر شـوه.

د عثمان ﷺ پـه دوره کـې هـم د قاضیانـو تنخـوا هغسـې د عمـر ﷺ د دورې په شـان پاتې شـوه، بلکې نـور هم قاضیانو، والیانـو او ټولـو خلکـو تـه ورکـړې زیاتې شـوې او همدغسـې ترتیـب د علـي (کـرم اللـه وجهه) پـه دوره کې هم پاتې شـو. (تاریخ القضاء فی الاسلام،ص:۱۰۴)

**ځانګړې قضاء:**

پـه خلافت راشـده کې به قاضي پـه ټولو دعوو کـې پرېکړې کولې او داسـې څـه هـم نشـته چـې تـرې معلومـه شي، چې یـوه ورځ دې هـم ځانګـړې قضاء تـرسره شـوې وي؛ ځکه په هغـه وخـت کـې د اوسـني وخـت په شان دعـوې ډېرې نه وې، مګـر پـه راشـده دوره کـې دې لوري ته څه اشاره شـته، لکـه څرنګـه چـې عمـر ﷺ سـائب بن یزیـد ته وویـل: د یو او دوو درهمـو پـه اړه خلـک لـه ما څخـه ګرځوه.

**د عمر ﷺ مکتوبات:**

د قضـاء پـه نظـام کـې عمـر ﷺ یـو ډېر پیـاوړی قانـون وضع کـړ، چـې د همـدې قانـون شرحـې او تعلیـق تـه د اسلامي فقهـې نوموتـو علـماوو ځانګـړې پاملرنه وکـړه، د قضاء اړوند دا عمـري قانـون مـوږ ابو موسـی اشعري ﷺ ته پـه ور لېږل شـوې رسـاله کـې موندلـی شـو، چـې یـادې رسـالې د قضـاء ډېـر عجیبـه او حیرانوونکـي ادبونـه او د محاکمـو اصـول رانغاړلي.

کـه پـه اوس وخـت کـې د یـوه دولـت واکمـن او امیـر پـه دې ډول کومـه رسـاله ولیکـي، چـې د محاکمو اصول یې په همـدې توګـه راوړي وي، دا بـه ډېـره لویـه ډنـډوره شي او همـدا واکمـن بـه د نـړۍ لـه لویو مفکرینـو او علـماوو څخه وشـمېرل شي؛ خـو تـه فکـر وکـړه، چـې عمـر ﷺ څـوارلس پېـړۍ وړانـدې څـه ډول ولیـکل؟ سره لـه دې چې لـه هېڅ کـوم کتـاب څخـه یې نـه دي را نقل کړي او نه یـې د هېچا قـول را اخیسـتی دی؛ بلکـې دا د همغـه ذهـن پایلـه او ثمره وه، چـې الهام یـې له داسـې زړه څخه اخیسـته، چې رسـول اللـه ﷺ دا ثمـره هغـه وخـت پکښـې کښـت کـړې وه، کله چـې دی د ارقـم کـور تـه ور ننوتلـو او ویـې ویـل: شـاهدي ورکـوم چـې لـه اللـه ﷻ پرتـه بـل د عبـادت وړ نشـته او محمـد ﷺ د هغـه رسـول دی؛ نـو دا د رسـول اللـه ﷺ لـه معجـزو څخـه شـمېرلی شـو.

**د هغې رسالې متن په لاندې توګه دی:**

۱- بیهقـي په السـنن الکبری کې پـه (۲۰۵۳۷) نمبر حدیث کـې وایـي: مـوږ ته ابـو عبدالله الحافظ خبر راکـړ، چې موږ تـه ابـو العبـاس محمـد بن یعقـوب روایـت وکـړ، هغـه وایي: مـوږ تـه محمد بن اسحاق الصغاني روایت وکـړ، هغه وایي: مـوږ تـه ابـن کناسـة روایـت وکـړ، هغه وایـي: موږ تـه جعفر بـن برقـان د معمر بصري لـه قوله او هغـه د ابوالعوام بصري لـه قولـه روایـت وکـړ، چـې عمـر ﷺ ابـو موسـی اشعري ته داسـې ولیـکل: «بېشـکه قضـاء یـو محکـم فـرض دی او یـو

پیروي کېدونکې سنت دی؛ نو کله چې یوه دعوه درته وړاندې شي، ښه یې درک کړه؛ ځکه دا ګټه نه لري چې حق خبره وشي خو عمل پرې ونه شي.
د خلکو تر منځ د خپلې څېرې، خپل مجلس او خپل قضاوت په واسطه مساوات وساته، تر څو شریف (د مقام خاوند) ستا لخوا د طرفدارۍ او ظلم تمه پیدا نه کړي او کمزوری ستا له انصافه ناهیلی نه شي.
د بینې (ثبوت) راوړل په مدعي (هغه چې دعوه کوي) باندې او قسم په هغه چا دی چې انکار ترې کوي. د مسلمانانو ترمنځ سوله کول روا دي؛ خو داسې سوله نه چې حلال حرام او حرام حلال کړي. که څوک د داسې حق دعوه کوي، چې غایب دی، یا وایي چې بینه لري؛ نو ده ته یو مهلت وټاکه، چې تر هغه وخته خپل ثبوت راوړي، که یې ثبوت راوړ، حق ورکړه او که عاجز شو، پرېکړه پرې وکړه؛ ځکه دا به ستا لپاره د عذر اظهار ته بسنه کوي او مجهول حالت تر ټولو ښه روښانه کوي.
دا دې له حقه منع نه کړي، چې تا نن یو حکم کړی وي؛ خو بیا تـه بېرته خپل نظر تـه ور وګرځې او صواب ته ورسېږې؛ نو بیا هم حق ته را وګرځه؛ ځکه چې پخوانی حق تلپاتې دی او هېڅ شی حق له منځه نشي وړی او حق ته رجوع کول، له دې غوره ده چې په باطل کې همداسې پاتې شې.
مسلمانان د یو بل په شهادت کې عادل ګڼل کېږي؛ هغه څوک چې په کوم حد کې دُرې ورکړل شوې وي، یا یې که چېرته د دروغو شهادت ورکړی وي، یا د ولاء یا قرابت له مخې شک پرې وي.
الله سبحانه وتعالی د بندګانو باطني حالتونه په خپله غاړه اخیستي او حدود پر هغوی نه جاري کوي؛ د بیّنو (ثبوتونو) او قسمونو پر بنسټ.
بیا هغه مسائل چې درته وړاندې کېږي او په تراو یې په قرآن او حدیثو کې کوم څه ونه مومې، د هغه په اړه قیاس وکړه، هغه ته ورته مثالونه پیدا کړه او په هغو عمل وکړه، چې ستا په ګمان الله ﷻ ته ډېر خوښ او حق ته ډېر نږدې دی.
د خصومت پر وخت د خلکو ترمنځ له غوسې، زړه تنګون، چیغې وهلو او د تنفر له احساسه ځان وساته او له هغوی سره په تریو تندي چلند مه کوه؛ ځکه هغه څوک چې د حق په ځای کې قضاوت کوي، الله ورته اجر ټاکي او د آخرت ذخیره یې پرې ښکلې کوي.
د چا چې د حق په میدان کې نیت خالص وي، که څه هم دا حکم د هغه د ځان په ضرر وي، نو الله ﷻ د ده او د خلکو ترمنځ کافي دی. څوک چې د خلکو په وړاندې یوازې ځان ښودنه کوي، حال دا چې په زړه کې یې بل څه وي؛ نو الله به هغه رسوا کړي؛ ځکه الله له خپلو بندګانو یوازې هغه عبادت قبلوي، چې د هغه لپاره خالص وي.
نو ستا ګمان د نورو خلکو د بدلې د الله ﷻ د ثواب په وړاندې څه دی، هغه چې د دنیا روزي یې ژر ده او د رحم خزانې یې پراخې دي؟ والسلام». (ډېرو نورو هم په مختلفو الفاظو همدا روایت کړې ده).

**تشریح:**

**«بېشکه قضاء یو محکم فرض دی»:** یعنې داسې قطعي دی، چې د نسخ هېڅ احتمال نه لري.

**«او یو پیروي کېدونکی سنت دی»:** یعنې په دین کې داسې یوه لاره ده، چې پیروي یې واجب ده.

**«کله چې یوه دعوه درته وړاندې شي، ښه یې درک کړه»:** وړاندې کېدل په دې معنی چې حاکم ته یو خصومت او شخړه وړاندې شي د حل په موخه او له درک څخه موخه حق ته رسېدل دي؛ نو معنی به یې داسې شي، چې هر کله کوم خصومت درته وړاندې شي، حق ته د رسېدو لپاره ټول کوښښ او هڅه وکړه. ځینې بیا وايي، چې د دواړو خصمینو خبرې سمې واوره او په هدف یې ځان پوه کړه، چې په همدې باندې هر یو قاضي مأمور دی؛ ځکه حق له باطل څخه یوازې په همدې توګه جلا

کېدی شي او ښايي يو له خصمينو څخه په ژبه د داسې څه اقرار وکړي، چې هغه د خپل خصم لپاره په حق باندې اقرار وي؛ نو که قاضي په دې پوه شي، نافذ يې دې کړي؛ خو که پوه نه شو، حق ضايع شو. دې خبرې ته په رساله کې دلته اشاره شوې چې وايي: «ځکه دا گټه نه لري، چې حق خبره وشي خو عمل پرې ونه شي».

ځينو بيا ويلي، چې هدف دا دی، چې د شاهدانو خبرو ته غوږ ونيسه او په هدف يې ځان پوه کړه؛ ځکه دوی ستا په مخ کې د حق په تړاو خبرې کوي او گټه يې هغه وخت ښکاره کېږي، چې قاضي يې بيا نافذې کړي.

**«د خلکو تر منځ د خپلې څېرې، خپل مجلس او خپل قضاوت په واسطه مساوات وساته»:** د خلکو ملت او د سيمو توپير ته دې نه کتل کېږي؛ ځکه دلته د «خلک» کلمه ټولو انسانانو ته شاملېږي. دوی ته په کتلو، د کېنولو پر ځای او قضاء کې بايد مساوات په پام کې ونيول شي، داسې چې قضاوت ته د کېناستو پر مهال يو له بل څخه بايد وړاندې نه شي. ابو يوسف (رحمه الله) اړوند کيسه کېږي، چې د ځنکدن پر وخت په خپله دعاء کې داسې ويل: اې الله ﷻ! ته ښه پوهېږې، چې ما د دوو خصمينو ترمنځ عدالت نه دی تر پښو لاندې کړی؛ خو په يوه ځای کې، د هغه بخښنه راته وکړه. ورڅخه وپوښتل شول، چې هغه کوم ځای و؟ هغه وويل: يوه نصراني په اميرالمؤمنين باندې دعوی وکړه، ما دا مناسبه ونه گڼله، چې په امير المؤمنين باندې امر وکړم او له هغه قالينې يې پورته کړم، چې دی ورباندې ناست و؛ خو نصراني مې پورته کړ او څومره چې مې وس و، د قالينې څنگ ته مې کېنولو، پرته له دې چې د دوی د ناستې په ځای کې مساوات وکړم، د دوی دعوی مې واورېده؛ نو همدا زما بې عدالتي وه.

هېره دې نه وي، چې د قاضي لپاره ډېره مهمه ده، چې همدې خبرې ته ځانگړې پاملرنه وکړي، لکه په دې قول کې چې اشاره ورته شوې:

**«تر څو شريف (د مقام خاوند) ستا لخوا د طرفدارۍ او ظلم تمه پيدا نه کړي او کمزوری ستا له انصافه ناهيلی نه شي»:** ځکه که د مقام څښتن ته د قاضي لخوا د ظلم تمه ورکړل شي، د مقابل کمزوري خصم زړه ماتېږي او له عدالت څخه ناهيلی کېږي، يا ښايي چې د همدې تمې څخه په گټې اخيستنې د مقام څښتن چالاکي وکړي او کمزوری خصم يې ونه توانېږي، چې په دليل سره خپل حق ثابت کړي، دلته قاضي د هر څه لامل شو؛ ځکه د کېناستو او مجلس په برخه کې يې د قوي او ضعيف ترمنځ مساوات ونه کړ، همدارنگه د دې تهمت هم په قاضي باندې کېدی شي، چې گواکي يو اړخ ته يې ميلان ډېر دی، که څه هم په کلکه باندې قاضي له دې څخه منع شوی دی.

**«د بينې (ثبوت) راوړل په مدعي (هغه چې دعوه کوي) باندې او قسم په هغه چا دی چې انکار ترې کوي»:** علماوو د دې حکمت بيان کړی، چې ولې ثبوت راوړل په مدعي او قسم په منکر باندې لازم دی؛ ځکه چې مدعي کمزوری وي، دعوی يې له اصل سره مخالفت لري او اصل براءة ذمه دی؛ نو په قوي دليل او ثبوت باندې مکلف کېږي، چې همغه بينه ده او له تهمت څخه لېرې دی؛ خو مقابل اړخ منکر (مدعی عليه) قوي دی؛ ځکه له اصل سره يې مخالفت نشته؛ نو ځکه يې په کمزوري حجت باندې بسنه کېږي، چې هغه قسم دی او تهمت ته بيا ور نږدې دی؛ نو قوي دليل مو د ضعيف او ضعيف د قوي ترڅنگ راغلل، تر څو تعادل حاصل شي.

**«د مسلمانانو ترمنځ سوله کول روا دي؛ خو داسې سوله نه چې حلال حرام او حرام حلال کړي»:** په دې کې دا دليل دی، چې سوله جواز لري او قاضي هم کولی شي، چې دواړه لوري سولې ته را وبلي.

ابن عابدين په ردالمحتار کې ويلي دي: قضاء بد بينې رامنځته کوي؛ نو څومره چې ممکنه وي، ځان دې ترې وساتل شي. په البيري کې د خزانة الأکمل له قول څخه

راغلي دي: که قاضي د خصمينو د رضايت تمه لرله، نو د دعوی رد کول پروا نه لري، ترمنځ يې دې پرېکړه نه کوي؛ ښايي دوی سوله وکړي او تر دوو ځلو وړاندېز وروسته يې دې نه رد کوي، که يې د سولې تمه نه وه، بيا دې پرېکړه وربانديې وکړي. الله ﷻ سوله په خير سره تعبير کړې او فرمايي: ﴿وَالصُّلۡحُ خَيۡرٌ﴾ [النساء/۱۲۸]

او په **الخيرية** کې داسې راځي: سوله له اقرار، انکار او سکوت سره جائزه ده او امام شافعي (رحمه الله) ويلي: سوله له انکار سره جواز نه لري او په دې حديث شريف باندې يې استدلال کړی: (که مدعي په ناحقه سره وي، نو د بل چا مال ترلاسه کوي، چې ورته حرام دی او سوله دا حرام حلال ګرځوي.) که چېرې دی پر حق وي او سوله يې د حق پر ځينې برخه وشي، نو د خپل حق تر پوره کېدو چې هر څه زيات وي، د سولې څخه مخکې يې اخيستل ورته حلال دي؛ خو تر سولې وروسته وربانديې حرام ګرځي او د خصم لپاره د سولې څخه مخکې حرام دي، چې هغه حق ور نه کړي، خو د سولې کولو سره حلال ورته ګرځي.

موږ وايو: موخه دا نه ده، بلکې موخه دا ده، چې عيني حرام بايد حلال او عيني حلال بايد حرام ونه ګرځول شي، لکه په شرابو، خنځير او يا د خاوند او مېرمنې ترمنځ داسې سوله، چې خاوند به يې له بلې ښځې سره نه يو ځای کېږي، يا به يې مينځې ته نه ور نږدې کېږي، چې دا ډول سوله بيا حرام حلال او حلال حرام ګرځوي او زموږ په نزد باطله ده.

**«که څوک د داسې حق دعوه کوي، چې غايب دی، يا وايي چې بينه لري؛ نو ده ته يو مهلت وټاکه، چې تر هغه وخته خپل ثبوت راوړي»:** دا په دې باندې دليل دی، چې قاضي به هر يو له خصمينو ته تر ممکنې کچې مهلت ورکوي، تر څو دليل پکښې راوړلی شي. آن تر دې، چې که مدعي وويل: زما شاهد په ښار کې دی، قاضي به مهلت ورکوي تر څو هغه حاضر کړي.

ښايي په لومړي مجلس کې هغه حاضر نه شي کړی؛ نو مقابل خصم يې له حق څخه انکار نه شي کولی او د دې لپاره چې خبره ښه روښانه شي، نور وخت به ورکوي، تر څو هغه حاضر کړي. بيا که مدعي خپل شاهد او بينه حاضره کړي، دلته که مدعی عليه د دفع غوښتنه کوله، قاضي به وخت ورکوي تر څو دفع وکړي؛ ځکه قاضي د دواړو ترمنځ په برابرۍ او عدالت باندې امر کړل شوی دی.

ابن عابدين په رد المحتار کې وايي: که مدعي له قاضي څخه د بينې د حاضرولو لپاره وخت وغواړي، قاضي به وخت ورکوي، بيا يې چې بينه حاضره کړه او دلته مدعی عليه د دفع کولو لپاره وخت وغوښت، هغه ته به هم وخت ورکوي او په حکم کې به بېړه نه کوي. هو، دا هغه وخت چې د دفع په تړاو پوښتنه ترې وکړي او پوه شي چې دفع يې صحيح ده، که فاسده وه بيا د وخت نه ورکوي. همداسې په قاضي خان کې هم راغلي.

لازمه ده، چې مهلت او دا وخت ورکول په دومره کچه وي، چې د دواړو اړخونو مراعات پکښې شوی وي؛ ځکه بېړه کول، د هغه لپاره ضرر دی، چې د دفع غوښتنه کوي او ځنډول يې بيا د هغه لپاره تاوان دی، چې حق يې ثابت کړی او غوره له کړنو هغه دي، چې تعادل په پام کې ونيول شي.

**«که يې ثبوت راوړ، حق ورکړه او که عاجز شو، پرېکړه پرې وکړه»:** دلته په دې خبره کې که موخه د دفع راوړل او عجز يې وي؛ نو دا خو څرګنده ده؛ ځکه که دفع حاضره نه شي کړی، قاضي دې په بينه باندې پرېکړه وکړي؛ خو که عاجز نه شو له دفعې څخه بيا دې پرېکړه نه کوي؛ ځکه له دفع څخه يې عجز په دې باندې دليل کېږي چې بينه د ده په مقابل کې سمه او دی په ناحقه دی. او که د دې خبرې موخه مدعي وي، نو معنی به يې داسې شي، چې پرېکړه وربانديې کول درته روا او دربانديې لازمه ده، چې مدعي له دې منعه

کړې چې خلک دې بې ځایه نه ځوروي او نه دې بې دلیله دعوه په چا باندې کوي.

**«ځکه دا به ستا لپاره د عذر اظهار ته بسنه کوي او مجهول حالت تر ټولو ښه روښانه کوي»:** یعنې دا چې قاضي ته د قضاء له راجع کېدو وروسته ډېره ښرګنده لاره ده تر څو قاضي معذور وګڼل شي او په همدې توګه (چې مهلت ورکړل شي) شک هم ښه له منځه وړل کېږي؛ ځکه وروسته له دې چې مهلت یې ورکړ او له دفع څخه هم عاجز شو، که هر ډول پرېکړه ورباندې وشي، د قضاء له مجلس څخه به منندوی او په چوپه خوله ولاړ شي؛ خو که مهلت ور نه کړل شي، بیا چې ولاړ شي، په زړه کې به یې شک پاتې وي او له ځان سره به وایي: زما د مقابل خصم ننګه او لحاظ یې وکړ، زما دلیل ته یې هېڅ غوږ نه کېښوده، نه یې دومره وخت راکړ چې خپل دلیل ورته وړاندې کړم.

**«او دا دې تا له حقه منع نه کړي، چې تا نن یو حکم کړی وي، خو بیا ته بېرته خپل نظر ته ور وګرځې او صواب ته ورسېږې؛ نو بیا هم حق ته را وګرځه؛ ځکه چې پخوانی حق تلپاتې دی او هېڅ شی حق له منځه نه شي وړی او حق ته رجوع کول، له دې غوره دی چې په باطل کې همداسې پاتې شې»:** دا خبره په دې باندې دلیل ده، چې که قاضي په خپله پرېکړه کې تېروتنه کړې وه، د شرعي نص، اجماع او یا د امام له قول څخه یې مخالفت کړی و، نو باید خپله پرېکړه ماته کړي. دا مناسبه نه ده چې د خلکو له شرمه د پرېکړې له ماتولو لاس په سر شي؛ ځکه الله ﷻ ته نږدې کېدل او له هغه څخه ډار ورته ډېر غوره دی. دا یوازې د قاضي په حق کې نه، بلکې عامه ده او هر هغه څوک د دې خبرې مخاطب دي، چې له شرعي امورو څخه کوم چا ته ور ښایي؛ نو دعوتګر، مفتي او قاضي په دې خبره کې ټول یو شان دي. نو که پوه شو چې تېروتنه یې کړې، خپله رجوع دې ښرګنده کړي؛ ځکه د عالم ښویېدل او تېروتنه، د خلکو د فتنې لامل کېږي، لکه څنګه چې ویل کېږي: د عالِم ښویېدنه، د ټول عالَم ښویېدنه ده. خو همدا خبر د قاضي په حق کې بېخي ډېره د پاملرنې وړ ده؛ ځکه قضاء لازم کوونکې ده.

دا خبره چې «مخکنی حق» دا معنی لري، چې اصل کې د خلکو غوښتنه حق دی او د چا په تېروتنه باندې نه شي پټېدی، یوه ورځ نه یوه ورځ هرو مرو ښکاره کېږي؛ خو که قاضي یې په خپله ښکاره کړي، دا به د خلکو په نظر کې د ده لپاره غوره وي، له دې څخه چې سبا ورځ یې په باطل باندې له ټینګاره سره په خپله را ښرګند شي.

**«مسلمانان د یو بل په شهادت کې عادل ګڼل کېږي»:** دا د امام ابو حنیفه (رحمه الله) دلیل دی، چې د مستور الحال په شهادت باندې پرېکړه کول جواز لري، وړاندې له دې څخه چې قاضي یې پوښتنه وکړي؛ خو په هغه صورت کې چې مقابل لوري طعن او نیوکه نه وي ورباندې کړې.

د عقیدې پر بنسټ د هر مسلمان لپاره عدالت په اصل کې ثابت دی؛ ځکه دین یې له دې څخه منع کوي چې باید د عقیدې له مخې د حرامو کړنو څخه ځان وساتي؛ دا په همدې دلالت کوي چې په شهادت کې رښتینی دی؛ ځکه په شهادت کې دروغ ویل د هر مسلمان په عقیده حرام کار دی. د ترمذي په حدیث کې له أیمن بن خریم څخه روایت دی: نبي ﷺ خطبې ته ولاړ شو او ویې ویل: اې خلکو! په دروغو شاهدي ورکول په الله ﷻ باندې د شریک نیولو له ګناه سره برابره ده. بیا یې دا ایت شریف تلاوت کړ: فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ [الحج/۳۰]

**ژباړه:** د بتانو له پلیتۍ څخه ځان وساتئ او له درواغو ویناوو څخه ډډه وکړئ.

خو ابو یوسف او محمد (رحمهما الله) وایي: قاضي به پوښتنه کوي، که څه هم مقابل لوري طعن او نیوکه نه وي کړې. ویل کېږي، چې دا د زمان او وخت اختلاف

دی، امام ابو حنیفه (رحمه الله) په دریمه پېړۍ کې فتوا ورکوله او د همدې پېړۍ په رښتینولۍ او غوره والي رسول الله ﷺ شاهدي ورکړې. په بخاري شریف کې عبد الله ؓ له نبي ﷺ څخه روایت کوي، چې ویې ویل: «غوره د خلکو څخه زما د پېړۍ اوسېدونکي دي، بیا هغوی چې په دې پسې راځي، بیا هغوی چې په هغې پسې راځي بیا به داسې قومونه راځي، چې د یوه کس شاهدي به د هغه له قسم وړاندې کېږي او قسم به یې له شاهدۍ وړاندې کېږي (د قسم او شاهدۍ پروا به څوک نه کوي)». ابراهیم وایي: «پخوا به یې موږ د دروغو په شهادت او په ژمنه کې د ماتولو له امله وهلو»، نو په دې زمانه کې خو (چې امام صاحب پکښې و) واک د عادلو خلکو په لاس کې و؛ ځکه خو یې په ظاهري عدالت فتوا ورکوله؛ خو دوو نورو امامانو بیا په هغه پېړۍ کې فتوا ورکوله، چې رسول الله ﷺ یې په دروغجن والي شاهدي ورکړې ده او داسې یې ویلي دي: «بیا به دروغ دومره خپاره شي، چې یو سړی به په شاهدي ورکولو پرته له پوښتنې پیل کوي»، لکه د احمد او نورو په روایت کې چې راځي.

د دوی دواړو په زمانه کې واک د غیر عادل کسانو سره و، نو ځکه دوی ویل چې قاضي باید د شاهدانو د حال په تړاو پوښتنه وکړي، چې خپل خصم یې طعن ورباندې کړی او که نه.

په درر الحکام کې یې ویلي: کله چې د اختلاف سبب د زمانې له بدلون څخه سر چینه اخیسته، نو د امامانو په قول د عمل وشي، لکه د عدالت په ظاهر د پرېکړې کولو په موضوع کې.

په الدر المختار کې وایي: له حد او قصاص پرته په نورو قضیو کې دې د هغه شاهد د حالت پوښتنه نه کېږي، چې طعن نه وي وربادې؛ خو د دوی دوو امامانو په نظر، که د شاهد حالت پټ و، باید په هره قضیه کې یې پوښتنه وشي؛ په آزاد انسان، شکاره او په پټه او په همدې قول باندې فتوا ده؛ ځکه دوی دواړه په څلورمه پېړۍ کې وو. خو که یوازې په پټه یې پوښتنه وشي، روا ده او سراجیه کې هم همدارنګه راغلي او فتوا هم وربادې ده. په رد المحتار کې راځي: «دا خبره: چې په همدې باندې فتوا ده» له دې سره تړلې چې: «د دوی دواړو امامانو په نظر دې په هر حالت او قضیه کې د شاهدانو د حال پوښتنه وشي». په البحر کې وایي: نتیجه دا شوه، چې که مقابل خصم طعن او نیوکه وربانديې وکړي، په هره قضیه او حالت کې دې یې د حالت پوښتنه وشي، خو که طعن نه و، بیا د یوازې په حدودو او قصاص کې پوښتنه وشي او په نورو کې بیا اختلاف دی. او چا بیا داسې ویلي: دا د زمان او وخت اختلاف دی او په وخت کې فتوا د امامانو په قول سره ده. همداسې په هدایه کې هم راغلي.

**«مګر هغه څوک چې په کوم حد کې دُرې ورکړل شوې وي»:** موخه دا ده، چې په تهمت باندې حد ورکړل شوی وي او په ځینو روایاتو کې داسې راغلي، چې: «مګر هغه چې په قذف (تهمت) باندې حد ورکړل شوی وي». دا زموږ لپاره دلیل دی، چې په تهمت باندې پر چا حد جاري شوی وي، شاهدي یې نه قبلېږي، که څه هم توبه وباسي. دلته چې د تهمت له امله حد وربانديې جاري شي، هغه عدالت له منځه ځي چې د شاهدۍ ورکولو لپاره معتبر دی، لکه څنګه چې الله ﷻ اشاره ورته کړې او فرمایلي یې دي: «او د هغوی شهادت هېڅکله مه قبلوئ» [النور/٤]

**«یا یې که چېرته د دروغو شهادت ورکړی وي»**
نو که له چا څخه د دروغو شاهدي ثرګنده شوه، په دې امانت کې هم جنایت ورڅخه څرګندېږي او له چا څخه چې جنایت څرګند شي، د امانتدارۍ باور نه شي وربانديې کېدی. بله دا چې له ده څخه کبیره ګناه صادره شوې؛ څنګه چې بخاري له انس بن مالک او هغه له نبي ﷺ څخه روایت کوي، چې هغه وویل: «تر ټولو

لوی ګناهونه: لـه الله سره شریک نیـول، ځانوژنـه کـول، د مـور او پـلار لخوا عـاق کېـدل او پـه دروغو خبـره ورکول دي»، پـه بـل روایـت کـې «پـه دروغـو شـاهدي ورکـول» راغـلي، نـو د همـدې پـه اساس یې عدالـت او د شـاهدۍ اهلیـت نـه پاتـې کېږي.

**«یـا د ولاء یـا قرابـت لـه مخې شـک پـرې وي»:** یعنې متهـم وي او «ولاء» د واو پـه زور سره، دې تـه وایـي چـې یـو څـوک پردیـو تـه ځـان منسـوبوي، چـې ګـواکي نسـب یې دی. قرابت (خپلوي)، قـاري پـه مرقـات کـې وايي: شـاهد بـه داسـې څـوک هـم نـه وي، چـې د خپلـوۍ پـه تـړاو شـک وربانـدې وي؛ او دا داسـې چـې لـه خپـل پـلار او خپلوانو پرته بـل چـا تـه ځـان منسـوبوي؛ شـاهدي یې ځکـه رد کېږي، چې دی پـه دې کار سره پـه خپـل ځـان باور لـه منځه وړي. زموږ ځینـو شـارحینو علمـاوو هـم همـدا خبـره کـړې ده. المظهر وایـي: یعنـې کـه څـوک ووایـي چـې «زه د فلاني ازاد کـړل شـوی غـلام یـم» او دی پـه دې خبـره کـې دروغجـن وي او خلـک شـک پـرې کـوي او دروغجـن یـې ګڼـي؛ شـاهدي یې نـه قبلېږي؛ ځکـه دا فاسـق دی (پورتنـي کارونـه او دروغ نسـبتونه لویـه ګنـاه ده او تـر سره کوونکـی یې فاسـق دی). همداسـې د خپلـوۍ پـه تـړاو شـکمن دې تـه وايـي، چـې یـو څـوک ووايـي: زه د فلاني زوی یم، یا زه د فلاني نسـبي ورور یـم او خلـک یې پـه دې کـې دروغجـن ګڼي.

«الله سـبحانه وتعـالی د بندګانـو باطنـي حالتونـه پـه خپله غـاړه اخیسـتي او حـدود پـر هغـوی نه جـاري کـوي، مګر د بیّنـو (ثبوتونو) او قسـمونو پـر بنسـټ»: یعنې قـاضي د حق او ناحـق د حقیقـت پېژندلـو وړتیـا نـه لـري؛ ځکـه دا غیب دي او لـه الله ﷻ پرتـه بـل څـوک نـه دي پـرې خبر؛ خو قـاضي د حقیقـت پېژندلـو لپـاره دا لاره لري، چـې د دلیلونو پـه څرګندېدلـو بانـدې عمـل وکـړي او همـدې خبـرې ته په دې قـول کـې اشـاره شـوې: «لـه تاسـو څخـه د ښـکاره دلیلونو پـه واسـطه حدونـه سـاقط شـوي»، لکـه څنګـه چـې دا په دار قطنـي کـې راغـلي دی. یعنـې لـه تاسـو څخـه پـه دنیـا کـې ملامتـي او پـه آخـرت کـې ګنـاه او سـزا سـاقطه شـوې او دا همـدا معنـی ده چـې ابـن المقرئ پـه خپـل معجـم لـه شریح څخـه روایـت کـړي او ویـلي یـې دي: «قضـاء یـوه سکروټه ده، نـو پـه دوو لرګیـو یـې لـه ځـان څخـه لـیرې کـړه» (یعنې د شـاهدانو پـه شـاهدۍ او قسـم باندې).

**«بیـا پـه هغـه مسـائلو پوهېـدل دي، چـې درتـه وړاندې کېږي او پـه تـړاو یـې پـه قـرآن او حدیثـو کې کـوم څه ونـه مومـې»:** دلتـه لـه پوهېدلـو څخـه موخه اجتهـاد دی او دا د هغـه قـاضي اړونـد ده، چـې د نظر او رایي څښـتن وي؛ خـو هغـه چـې رایه او نظـر نه لري، هغـه به لـه خپـل مجتهد څخـه تقلیـد کـوي. پـه مقلـد قاضي لازمـه ده، چـې د فقهې جزیاتـو، د ائمـه وو او عـرف زده کولـو تـه ځانګـړې پاملرنـه وکـړي. دی پـه دې بانـدې امـر کېـږي، چـې یـوازې دې په ثابتـو مسـائلو کـې اجـراآت کـوي او لـه تخمینـي مسـائلو او مجازاتـو منعـه کـړل شـوی دی. پـه ځانګـړې توګـه لـه هغه پېښـو، چـې پـه تـړاو یـې نـص نـه وي راغلـی او دې موضوع تـه پـه دې قـول کـې اشـاره شـوې: «کـه پـه قـرآن او سـنت کـې نـه وو راغـلي؛ نـو بیـا بـه خامخـا فکـر کـوي» او د فکر کولـو تګلارې تـه پـه دې قول کـې اشـاره شـوې: « د هغه په اړه قیـاس وکـړه، هغـه تـه ورته مثالونـه پیدا کـړه»: یعنې دا مسـائل بیا وربانـدې قیاس کـړه. دا خبـره د جمهورو فقهاوو (رحمهـم اللـه) لپاره دلیل هم دی، چـې ګـواکي قیاس حجت دی؛ ځکـه د اهـل ظواهـرو د نظر خلاف، ټولې پېښـې خو په قرآن او حدیثـو کـې په صراحـت سره نـه دي راغلې.

**«بیـا پـه هغـو عمـل وکـړه چـې سـتا پـه ګمـان الله ﷻ تـه ډېـر خـوښ او حـق تـه ډېـر نـږدې دی»:** همـدا د قیاس طریقـه ده، چـې یـوه پېښـه په هغـه څه ور بناء کـړې، چې د معنـی لـه مخې ورتـه نـږدې وي.

**«لـه غوسـې، زړه تنګـون او چیغـو وهلـو ځـان وسـاته»:** زړه تنګـون او چیغـې وهل د غوسـې څرګندولـو ډولونه دي. زړه تنګـون یعنـې جدیـت او چیغـې وهـل پـه دې معنی چې لـه کچـې او اړتیـا زیـات آواز لـوړ کـړل شي او قـاضي له دې

څخه منعه کړل شوی دی؛ ځکه دا د خصم زړه ماتوي او د ثبوت له وړاندې کولو څخه یې عاجزه کوي او د دې په واسطه قاضي هم لار ورکی کېږي، چې حقیقت څه دی او یا ښایي له خصمینو څخه د کوم یوه په خبره پوه نه شي.

**«د تنفر له احساسه ځان وساته او له هغوی سره په تریو تنده چلند مه کوه»:** یعنې د قاضي لپاره نه ده روا، چې په خبرو یا کړنو سره خلک متنفره کړي او نه دا روا ده، چې مخ ترې واړوي او په تریو تندي ورسره مخ شي. که دا کار له یوه سره وکړي؛ نو ظلم شو او که له دواړو سره یې وکړي؛ ښایي هغه چې په حقه دی د حق له څرګندولو عاجز پاتې شي؛ نو په دې صورت کې به ولاړ شي او خپل حق به پرېږدي.

**«هغه څوک چې د حق په ځای کې قضاوت کوي، الله ورته اجر ټاکي او د آخرت ذخیره یې پرې ښکلې کوي»:** یعنې په حقه باندې قضاء او فیصله کوونکي قاضي ته الله ﷻ اجر ورکوي؛ نو نرمي، غوسه او بې حوصلې‌توب پرېښودل او له خلکو سره په ورین تندي مخ کېدل په هر ځای کې د ستاینې وړ دي؛ خو د قضاء په موقف کې که یوازې د الله د رضاء لپاره وي، ډېر غوره دي.

**«د چا چې د حق په میدان کې نیت خالص وي، که څه هم دا حکم د هغه د ځان په ضرر وي، نو الله ﷻ د ده او د خلکو ترمنځ کافي دی»:** د الله تعالی مرسته له خپل بنده سره د هغه د نیت په اندازه ده. عمر بن عبد العزیز ته د سالم بن عبد الله بن عمر په لیک کې راغلي: د الله ﷻ له طرفه مرسته د نیت په اندازه ده، که د بنده نیت بشپړ شو، د الله مرسته هم ورسره پوره وي او که یې نیت نیمګړی شو، د همغه په اندازه به د الله ﷻ مرسته هم نیمګړې وي. [په الحلیة کې یې ابو نعیم روایت کوي]

**«څوک چې د خلکو پر وړاندې یوازې ځان ښودنه کوي، حال دا چې په زړه کې یې بل څه وي؛ نو الله به هغه رسوا کړي»:** یعنې په خپلو کارونو کې ځان ښودنه، چې دا د هر چا لپاره بده ده او د قاضي لپاره خو بېخي بده ده؛ ځکه هغه اړتیا نه ورته لري او ځان ښودنه خو هغه څوک کوي، چې اړتیا ورته ولري او بل دا چې هغه د خلکو ترمنځ په پرېکړو کې د رسول الله ﷺ ځای ناستی ګڼل کېږي؛ نو باید له رسول الله ﷺ سره تر بل هر چا ډېر ورته والی ولري او هغه ﷺ له نفاق او ځان ښودنې بېخي ډېر لیرې و. او دا خبره چې هغه به رسوا کړي، په دې معنی چې د هغه له پټو رازونو به خلک خبر کړي. مسلم له ابن عباس څخه روایت کوي، وایي چې رسول الله ﷺ وویل: څوک چې د خلکو خبرولو او ځان ښودنې په موخه عمل ترسره کوي، الله ﷻ به یې (په پټو رازونو) خلک خبر کړي.

**«ځکه الله له خپلو بنده‌ګانو یوازې هغه عبادت قبلوي چې د هغه لپاره خالص وي»:** ځکه الله ﷻ له شریک څخه بې پروا دی او ریا کوونکی غواړي چې د خلکو ستاینه او هغه څه ترلاسه کړي، چې د هغوی په لاسونو کې دي؛ نو الله ﷻ هغه څه چې دی یې اراده لري نه ورڅخه قبلوي.

**«نو ستا ګمان د نورو خلکو د بدلې د الله ﷻ د ثواب په وړاندې څه دی، هغه چې د دنیا روزي یې ژر ده او د رحم خزانې یې پراخې دي؟»:** د دې معنی دا ده، چې ته څه ګمان کوې چې د خلکو څخه یې چې تمه لرې بدله غوره ده او که د الله ﷻ ژر، غوره بدله او د رحمت خزانې؟ نو که هوښیار انسان هغه څه چې الله ﷻ د تقوا او اخلاص په مقابل کې وعده ورسره کړې له هغه څه سره پرتله کړي، چې له خلکو یې تمه لري، خامخا به د الله ﷻ ورکړې ته ترجیح ورکوي او دا ژمنه ژر ورکوونکی رزق دی، لکه الله ﷻ چې فرمایلي: وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ [الطلاق/۲-۳] ژباړه: څوک چې له الله څخه په وېرېدو کار وکړي، الله

به د هغه لېږاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پيدا کړي او هغه ته به له داسې لارې څخه روزي ورکړي، چې هغه لوري ته يې ګمان هم نه رسېږي.
او د مغفرت او رحمت په اړه داسې فرمايي: إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ [الأعراف/٥٦]
ژباړه: په يقيني توګه د الله رحمت نېکانو (پرهېزګارانو) ته نږدې دی. الله تعالی ډېر عالم ذات دی.
په پورتنۍ شرحه کې چې څه وو، ډېری مې يې د سرخسي له مبسوط څخه اخيستي.
د قضاء په اړه دا رساله د عمر ﷺ له مهمو رسالو څخه ده او محمد بن الحسن د کتاب السياسة (قضائي رساله) په نوم ياده کړې.
ابن القيم وايي: دا رساله ډېره ارزښتناکه ده، چې علماوو قبوله کړې او په همدې بانديې يې د پرېکړې او شهادت اصول بناء کړي، حاکم او مفتي ببخي ډېره اړتيا ورته لري، چې فکر، سوچ او څېړنه پکښې وکړي.
دا نصيحتونو او حکمتونو ته شامله ده او د قضاء نظام، د اثبات قاعدې او د هغه اجراآتو بنسټ جوړوي، چې قاضي يې د دعوا پر وخت پيروي کوي، د مخالفت او دعوا څېړنه کوي او د خصمينو خبرې اوري. قاضي د اثبات په تګلارو، د حکمونو په صادرولو او تنفيذولو او هغو آدابو کې باور ورباندې کوي، چې د خپلو کړنو په ترسره کولو کې يې مرسته کوي. ګواکې دا رساله يوه داخلي لايحه او د قضاء قانون دی، چې علماء يې پر خپل ځای کې په هره ماده او فقره باور لري.
ځينو علماوو يې د سند او روايت په برخه کې د شک کولو هڅه کړې، ابن حزم الظاهري د قياس له امله رد کړې او جولد زيهير او مارجليوث او ځينو نورو مستشرقينو هڅه کړې، چې طعن پکښې را پيدا کړي؛ خو علماوو دا ادعاوې رد کړې او صحت يې ثابت کړی، چې دلته يې د يادولو امکان نشته. (تاريخ القضاء في الإسلام ص (۱۱۱).
**۲** - د عمر ﷺ له مهمو رسالو څخه دا رساله هم ده، چې ابو عبيده ﷺ ته يې ور لېږلې وه. امام ابو يوسف په الخراج کې له عروة بن رويم څخه روايت کوي، چې هغه وويل: ابو عبيدة بن الجراح چې په شام کې و، عمر ﷺ داسې ورته وليکل: «اما بعد؛ ما دا ليک تاته وليکه، له ځان او تا څخه هېڅ ډول د خير غوښتنه نه درېغوم. پنځه خويونه په ځان لازمي کړه، دين به دې محفوظ پاتې شي او د دنيا او آخرت غوره برخه به ترلاسه کړې! کله چې دوه خصمينه درته حاضر شي؛ نو عادل شاهدان او قاطع قسمونو ته اولويت ورکړه، کمزوری ځان ته در نږدې کړه؛ تر څو ژبه يې ښه وچلېږي او زړور شي، ناپېژندده ته پاملرنه وکړه؛ ځکه که بند يې اوږد شي، خپل ضرورت پرېږدي او خپل اهل ته بېرته ور ګرځي، هغه چې خلکو له پامه غورځولې، ته پاملرنه ورته وکړه او تر څو چې قضاء ښه سمه درته څرګنده شوې نه ده، سولې کولو ته دې لېوالتيا زياته کړه!».
**تشريح:**
**«تر څو ژبه يې ښه وچلېږي»:** ځکه کېدای شي، چې د قضاء د مجلس رعب او تاثير دا کمزوری له خبرو کولو را وګرځوي او خپل حق بيان نه شي کړی؛ نو قاضي ته په کار ده، چې هغه وهڅوي، تر څو خپل حق وغوښتلی شي.
**«که بند يې اوږد شي»:** يعنې که د همدې دعوی له امله له خپل حق څخه ډېر وخت ليرې پاتې شي او وځنډول شي.
**«خپل ضرورت پرېږدي»:** يعنې له خپل حق څخه تېرېږي.
**«هغه چې خلکو له پامه غورځولې، ته پاملرنه ورته وکړه»:** يعنې هغه حق ضايع شو، چا چې پاملرنه نه ده ورته کړې؛ نو که حاکم پاملرنه ورته ونه کړي، د همده له لاسه به حق تلف شوی وي.
**«تر څو چې قضاء ښه سمه درته څرګنده شوې نه ده، سولې کولو ته دې لېوالتيا زياته کړه»:** دا احترازي قيد نه دی؛ ځکه سولې ته لېوالتيا غوره کار دی، که څه

هم قاضي ته پرېکړه څرګنده شي؛ ځکه دا خبر راغلې، چې عمر رضي الله عنه وويل: خصمين بېرته پخولاينې ته وهڅوئ؛ ځکه د قضاء پرېکړه د خلکو ترمنځ دښمني زېږوي.(ابن ابي شيبة يې په خپل مصنف کې روايت کوي.)

خو که قاضي ته د قضاء پرېکړه نه وي څرګنده او يا د خصمينو ترمنځ کومه خپلوي وي؛ بيا نو سولې ته لېوالتيا ښېخې ډېره مهمه ده.

۳ – د عمر رضي الله عنه د رسالو له جملې دا هم ده، چې دارمي يې له شريح څخه تخريج کوي، چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه ورته وليکل: «که يو شی درته راشي او د هغه حکم په قرآن کريم کې وي؛ نو په همغه باندې حکم وکړه او خلک دې بايد له هغه څخه ونه ګرځوي او که فيصله درته راغله؛ خو په قرآن کريم کې نه وه، د رسول الله ﷺ سنت پسې وګوره او په هغه باندې پرېکړه وکړه؛ خو که داسې فيصله درته راغله، چې نه په قرآن کريم او نه د رسول الله ﷺ په سنتو کې وه؛ نو په اجماع کې يې وګوره او په هغه باندې عمل وکړه. که داسې فيصله وه، چې نه په قرآن کريم، نه په سنتو کې وه او نه يې له تا وړاندې په اړه چا نظر ورکړی و؛ نو له دې دوو کارو څخه چې هر يو غواړې هغه غوره کړه: که د غوښتل خپله اجتهاد وکړې، نو خپل نظر ورکړه او همداسې مخ پر وړاندې ځه او که دې غوښتل ويې ځنډوه او زه ستا لپاره ځنډول غوره ګڼم».

په دې باندې پوه شه، چې له دې حديث څخه د قضائي احکامو مصادر په ډاګه کېږي او هغه دا دي: د الله جل جلاله کتاب (قرآن کريم)، د رسول الله ﷺ سنت (احاديث)، اجماع او قياس. په همدې باندې د خلفاء راشدينو له زمانې تر نن ورځې پورې عمل کېږي.

٤ – په البيان والتبيين کې له عامر شعبي څخه راځي، هغه وايي چې عمر رضي الله عنه معاويه رضي الله عنه ته وليکل: «اما بعد؛ ما د قضاء اړوند دا ليک تاته وليکه، له ځان او تا څخه هېڅ ډول د خير غوښتنه نه دربغوم. پنځه خويونه په ځان لازمي کړه، دين به دې محفوظ پاتې شي او د دنيا او آخرت غوره برخه به ترلاسه کړې! کله چې دوه خصمين درته حاضر شي؛ نو عادل شاهدان او قاطع قسمونو ته ترجيح ورکړه، کمزوری ځان ته در نږدې کړه؛ تر څو زړور شي او ژبه يې ښه وچلېږي، ناپېژنده ته پاملرنه وکړه؛ ځکه که پاملرنه ورته ونه کړې، له حق څخه يې تېرېږي، خپلې کورنۍ ته ور ګرځي او چا چې نرمي نه ده ورسره کړې، همغه يې د حق ضايع کېدو لامل دی. د دوی ترمنځ په کتلو او سترګو غړولو کې هم مساوات کوه او تر څو چې د قضاء حکم نه دی درته څرګند شوی، د خلکو ترمنځ سوله کوه».

٥ – د سرخسي په مبسوط کې هم دا رساله راغلې، چې له شريح (رحمه الله) څخه روايت دی، چې عمر رضي الله عنه ورته ليکلي وو: «په مشوره ځان مه بوختوه، ضرر مه رسوه، د قضاء په مجلس کې پلورل او پېرودل مه کوه، رشوت مه اخله او د دوو کسانو ترمنځ د غوسې پر وخت پرېکړه مه کوه!».

**تشريح:**

دا خبره، چې **«په مشوره ځان مه بوختوه»** په المبسوط (۱۶/۷۳) کې راځي، چې د قاضي لپاره مناسب نه ده چې د قضاء په مجلس کې ځان په مشورو بوخت کړي، دا کار دې په بل مجلس کې کوي؛ ځکه که د قضاء په مجلس کې يې وکړي، ښايي توپير کول ورته ستونزمن شي او يا ناپوه دا فکر وکړي، چې ګواکي قاضي په څه نه پوهېږي ځکه له بل چا پوښتنې کوي. يا خو دا معنی لري، چې قاضي د يو له خصمينو سره پټې خبرې نه کوي؛ ځکه دا کار د بل خصم زړه ماتوي او په قاضي تور پورې کېږي، چې ګواکي له هغه بل سره جوړ و او دا چې له هغه سره يې خبرې وکړې، رشوت به ترې غواړي؛ ځکه خو د قضاء په مجلس کې بايد پټې خبرې ورسره ونه کړي؛ ځکه د قضاء مجلس ته خلک هم راټولېږي او په داسې ځای کې پټې خبرې کول د فتنې رامنځته کېدو لامل کېږي.

رسول الله ﷺ ويلي دي: «إذا كان القوم ثلاثة فلا يتناجى اثنان دون الثالث؛ فإن ذالك يحزنه».

ژباړه: کله چې درې کسان وي، دوه دې له درېیم پرته پټې خبرې نه سره کوي؛ ځکه په دې سره (درېیم) ځورېږي.

دا خبره، چې **«ضرر مه رسوه»** يعنې په وروسته راوتلو سره دې خصم په ضرر کې نه واقع کوي او نه دې قاضي داسې بېړه کوي، چې هغوی د ثبوت له راوړلو عاجز پاتې شي، په هغوی دې چيغې نه ور وهي او نه دې يې په خبرو کې له تېروتنو د هغوی په تاوان استفاده کوي؛ ځکه د قضاء مجلس ځانګړی رعب او تاثير لري، چې هر څوک نه شي کولی هره خبر له پوره حدودو مراعاتولو سره وکړي؛ نو که قاضي د دوی له هغه تېروتنو ور تېر نه شي، چې دی يې ورڅخه اوري، دا به د ده لخوا هغوی ته تاوان رسول وي او قاضي له دې کار څخه منع کړل شوی دی.

دا خبره چې، **«د قضاء په مجلس کې پلور او پېر مه کوه»** په دې باندې دليل ده، چې د قضاء مجلس ځانګړی حيثيت لري او دا کار يې حيثيت ته زيان رسوي او بل دا چې دا مجلس د حق څرګندولو او د دين د حکمونو د بيانولو ځای دی، دا کله ورسره ښايي، چې د دنيا کارونه د هم ورسره ګډ شي.

دا خبره، چې **«رشوت مه اخله»** موخه يې دا ده، چې په پرېکړو باندې له چا رشوت مه اخله، دا حرام کار دی او رسول الله ﷺ فرمايي: «الراشي والمرتشي في النار».

ژباړه: رشوت ورکوونکی او رشوت اخيستونکی به په اور کې وي او له علقمه او مسروق څخه روايت دی، چې دوی له ابن مسعود څخه د رشوت په اړه پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل: دا ناپاکه ګټه ده، دوی وويل: آيا په قضاء کې هم همداسې ده؟ ويې ويل: دا بيا کفر دی. وروسته يې دا آيت تلاوت کړ: (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ) [المائدة/٤٤]

ژباړه: کوم خلک چې د الله له نازل کړي قانون سره سمې فيصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي. [امام احمد په کتاب الايمان کې روايت کړی دی]

دا خبره، چې «**د دوو کسانو ترمنځ د غوسې پر وخت پرېکړه مه کوه»** په دې باندې دليل ده، چې قاضي بايد د غوسې په حالت کې قضاء او فيصلې ونه کړي، بلکې صبر به کوي تر څو يې غوسه آرامه شي؛ ځکه دی امر شوی، چې په نورمال حالت کې به پرېکړه کوي؛ ځکه خو د لوږې، ډېرې خوراک او د تشو يا ډکو بولو نيولو پر وخت له قضاء منع شوی؛ ځکه ده يې له نورمال حالت څخه وباسي، همداسې غوسه هم ده، چې حالت يې غير نورمال کوي، د غوسې پر وخت هغه څه ورڅخه ويل کېږي، چې خلک يې اورېدل نه غواړي او يا يې رنګ داسې بدلېږي، چې په دې وخت کې يې د خلکو لخوا ليدل مناسب نه وي او کله چې غوسه وربانديې څرګنده شي، د ډار له امله د حق څښتن نه شي کولی، چې خپل حق بيان کړي؛ ځکه خو موږ وايو، چې ولاړ دې شي او له خلکو د ځان ته شي، تر څو يې غوسه آرامېږي او دا هغه وخت، چې غوسه يې کله کله په ځينو وختونو کې راپارېږي؛ خو که همدا يې عادت وي او د هغه جديت له جملې څخه وي، چې رسول الله ﷺ يې په اړه وايي: زما د امت غوره کسان کله کله غوسه او تېز خوی وي، نو په دې صورت کې له قضاء څخه نه منع کېږي؛ ځکه دا يې عقل نه ګډوډوي او نه د سمې پرېکړې مخه يې ډپ کوي؛ خو هغه چې کله کله غوسه کېږي بيا داسې نه دي.

٦ – د عمر ﷺ د رسالو له جملې يو يې دا ليک دی، چې د شام والي معاويه ﷺ ته يې ليکلی دی، په دې کې يې د حق پر پابندۍ هڅوي، په قضاوت کې يې د عدالت د ښه لټون وصيت ورته کوي او د حق پر بنسټ د قضاوت کړنلارې ته يې رهنمايي کوي. د هغه متن دا دی: «اما بعد؛ ما دا ليک تاته وليکه، له ځان او تا څخه هېڅ ډول د خير غوښتنه نه درېغوم. پنځه خوبونه په ځان لازمي

کړه، دین به د محفوظ پاتې شي او د دنیا او آخرت غوره برخه به ترلاسه کړې! کله چې دوه خصمین درته حاضر شي؛ نو عادل شاهدان او قاطع قسمونو ته اولویت ورکړه، کمزوري ځان ته در نږدې کړه؛ تر څو ژبه یې ښه وچلېږي او زړور شي، ناپېژندو ته پاملرنه وکړه؛ ځکه که پاملرنه ورته ونه کړې، له خپل حق څخه تېرېږي او کورنۍ ته یې بېرته ګرځي؛ نو ښایي حق یې هغه چا ضایع کړ، چې پاملرنه یې نه ده ورته کړې او تر څو چې قضاء ښه سمه درته څرګنده شوې نه ده، د خلکو ترمنځ سوله کوه.(مجموعة الوثائق السیاسة، و أخبار القضاة لوکیع) ویل کېږي، چې دا د عبیده لیک و، ښایي والیانو ته یې په همدې معنی دوه لیکونه لېږلي وي او دا کومه نادره خبره نه ده.

۷ – د عمر ﷺ له لیکونو څخه دا هم دی، چې بیهقي یې په سنن الکبری کې له یزید بن رومان څخه روایت کوي، هغه وایي: عمر ﷺ أبي موسی ﷺ ته ولیکل: بې شکه ولس خپل امیر ته هغاسې عمل وراندې کوي، کوم رکم عمل چې امیر الله تعالی ته وړاندې کوي، که امیر بې پروا شو، نو ولس به یې هم بې پروا شي او ډېر ژر به داسې وخت راشي، چې خلک به له خپل امیر(واکمن) څخه کرکه او سترېا پیدا کړي، زه له الله عزوجل څخه څخه خپل د ځان او ستاسو لپاره له دې څخه پناه غواړم چې زموږ او ستاسو زړونه د کینې، نفسي غوښتنو د تعقیب او دنیا غوره کولو وخت ته ورسېږي، نو تل حق قائموئ، که څه هم د ورځې یوازې یوه شېبه پاتې وي.

۸ – د هغه له جملې دا هم دی، چې عمر ﷺ شریح ته ولیکل، چې د ګاونډي په حق کې پرېکړه وکړه، یعنې په شفعه باندې. په بل روایت کې دي، چې عمر بن الخطاب ﷺ امر راته وکړ، چې د شفعې د حق پرېکړه د ګاونډي په ګټه وکړم.

۹ – له ابراهیم څخه روایت دی، هغه وایي: دا لیک شریح ته و، چې که یو سړی د ناروغۍ په حالت کې ښځې ته درې طلاقه ورکړي، تر څو یې چې په عدت کې ده، میراث به ورځخه وړي.

۱۰ – د هغه لیکونو له جملې دا هم دی، چې له شعبي څخه روایت کېږي، هغه وایي: عمر ﷺ شریح ته ولیکل:« هغه څوک چې د بل د زوی کېدو دعوه کوي، تر هغه وخته میراث نه شي اخیستلی، تر څو پورې چې ښکاره ثبوت ونه لري او داسې دعوې ډېرې شوې هم دي»، عمر ﷺ شریح ته دا ځکه ولیکل: دا صحابي نه وي، چې په ټولو احکامو د پوه شي.

**د عمر ﷺ له لیکونو څخه استنباط شوې نکتې**

د عمر ﷺ له لیکونو څخه د قاضي ځینې مهمې ځانګړنې استنباطېږي، چې په لاندې توګه دي:

- په کار کې د الله ﷻ په وړاندې اخلاص؛
- په قضیه پوره دقیق ځان پوهول او مخکې له دې چې حکم وکړي په اړه یې سمه مطالعه کول؛
- په اسلامي شریعت باندې پرېکړه کول؛
- په هغه کارونو کې چې ورباندې سخت شي، مشوره کول؛
- په کتلو، خبرو او ناستې کې د خصمینو ترمنځ مساوات په پام کې نیول؛
- د کمزوري او بې جرأت خصم هڅول، ترڅو وېره یې له منځه ولاړه شي او د خبرو جرات پیدا کړي؛
- د بېګانه په دعوی کې برخه کول او د همکارۍ زمنه ورسره کول؛
- پراخه سینه درلودل او د غوسې، زړه تنګون او خواشینۍ پر وخت پرېکړه نه کول؛
- د لوږې او دې ته ورته نورو حالتونو کې، چې له قضاء څخه یې پام اړوي پرېکړه نه کول؛
- له هر هغه څه ځان ساتل چې د قاضي په پرېکړو اغېز کوي، لکه: رشوت اخیستل او یا د تجارانو لخوا په بیع کې نرمي ورسره کول؛
- څرګندو دلائلو ته ارزښت ورکول، پرته له دې چې د

نیتونو پلټنه وکړي؛

- دواړه طرفونه د دعوی سولې ته هڅول؛

او که تېروتنه یې څرګنده شي، بېرته حق ته رجوع کول.
علماوو له دې لیکونو څخه ګڼ شمېر احکام استنباط کړي، چې ځانګړي کتابونه یې وربانديې لیکلي، دلته یې تفصیل او بحث مناسب نه دی.

**د احکامو په تطبیق کې د عمر ﷺ سختوالی:**

عمر ﷺ د احکامو په تطبیق کې سخت مزاجه و، چې د حق پیروي یې کوله او د هېڅا خیال به یې نه ساته، د سعید بن مسیب له عمر بن خطاب ﷺ څخه روایت دی چې یو مسلمان او بل یهودي ده ته خپله دعوه وړاندې کړه؛ نو عمر ﷺ ولیدل چې حق د یهودي دی، پرېکړه یې د هغه په حق کې وکړه، نو یهودي ده ته وویل: زما دې په الله قسم وي، چې بې شکه په حقه دې پرېکړه وکړل، نو عمر بن خطاب هغه په دُره ووهی، بیا یې وویل: ته څنګه پوه شوې؟ یهودي ورته وویل: موږ دا ګورو، هېڅ داسې قاضي نشته چې هغه دې حقه پرېکړه وکړي، مګر د هغه راسته او چپه لورو ته یوه یوه ملائکه وي، ده ته تر څو چې د حق ملګری وي، سمه او حق ته د رسېدو توفیق ورکوي او کله چې یې حق پرېښودی، نو هغوی به هم دی پرېږدي.( المؤطا للامام مالك، رقمة ۲۸۷۸)

**د مظالمو او حسبه وو قضاء:**

دا وړاندې ذکر شوه، چې راشده خلافت کې د مظالمو او حسبه وو قضاء په خپلواکه توګه شتون نه درلود، مګر عمر ﷺ د ظالم په نیولو، په نېکیو د امر کولو او بدیو څخه منع کولو کې جدي وو او ابن شبه په تاریخ المدینه کې د علي بن زید څخه روایت کړی، چې د دار الندوه څښتن هشام بن عکرمه په مهاجرینو کې په یو چا فسخند وواهه، نو عمر بن خطاب ﷺ دُره وربانديې پورته کړه او وویل: تا د مهاجرینو یو سړي باندې فسخند وواهه او ورپسې یې وویل: اې قصي! درې واره یې ووهه، دغه وخت ابو سفیان وویل: د قصي وروره! صبر وکړه، که چېرې تا قصي ددې ورځې وړاندې هم رابللی وای، نو د بني عدي ورور به مو نه وای وهلی، نو عمر ﷺ ده ته مخ راواړوه او وویل: اې بې موره! چوپ شه، نو ابو سفیان خپله د شهادت ګوته په خوله کېښوده.

د ابن ابي ملیکه څخه روایت شوی دی، چې عکرمه بن عامر په وهب بن زمعه فسخند وواهه، نو هغه خپل وړاندیز عمر ﷺ ته وړاندې کړ، نو عمر ﷺ هغه په دُرې ووهئ او یا یې حد ورکړ.

ابو عبیده د ابن عمر څخه روایت کړی، وایي: چې عمر ﷺ د ثقیفي له کوم شخص سره یې شراب پیدا کړل، نو د سوځولو امر یې وکړ، نو ده ته وویل شوه، چې ډېر نېک کار کوونکی یې، عمر ﷺ وویل: ته ډېر فسق کوونکی یې. (رواه أبو عبیدة في کتاب الأموال، رقم:۲٦۷)

ابن قیم (رحمه الله) وايي: عمر ﷺ د هغه دوکان چې شراب پکښې وه، وسوځوه او هغه کلي چې شراب پکښې خرڅېدل هم وسوځول.

**د مجرم او متهم بندي کول:**

یو قول دا دی، اول هغه څوک چې محبس یې جوړ کړ، هغه عمر بن خطاب ﷺ دی، ځینو بیا علي (کرم الله وجهه) یاد کړی دی او په فتح القدیر کې راغلي: چې د رسول الله ﷺ او ابوبکر ﷺ په وختونو کې زندان نه و، بندیان به مسجد او یا دهلیز کې زنداني کېدل، بیا عمر ﷺ په مکې کې په څلور زره درهمه کور رانیوی او هغه یې بندي خانه کړه او ځینو ویلي، چې نه د عمر ﷺ او نه د عثمان ﷺ په وخت کې بندي خانه وه، مګر بیا د علي ﷺ په دوره کې هغه جوړه کړه او دا په اسلام کې لومړنۍ بندي خانه ده چې جوړه شوه.

په الفائق کې وايي، چې علي ﷺ له نریو لرګیو څخه زندان جوړ کړ او نافع نوم یې په کېښښوی، غلو هغه سوری کړ او خلک ترې وتښتېدل، بیا یې له خټو څخه زندان جوړ کړ، نو بیا یې په مخیس (خوار ځای) ونوموی او په دې اړه علي ﷺ وايي:

ألا تراني كيسا مكيسا
آيا ته نه وينې، چې زه څومره هوښيار او پوه يم؟
بنيتُ بعد نافعٍ مخيسا
ما د نافع(زندان) وروسته مخيس(زندان) جوړ كړ.
بابا حصينا وأمينا كيسا
كلك دروازه او خوندوري او د پاملرنې وړ پردې لري.
د لغاتو معنى:
والمخيس: خوار او ذليل ځای ته وايي.
والكيس: د چارو او كارونو ښه پاملرنه كول.
أمين:امانت داره، دې سره يې هدف زاندان كې ځړول شوي پردې دي.

**د عمر ﷺ ځيركتيا:**

د ده د ځيركتيا اړوند يو د ليث بن سعد قول دى: يوه ورځ عمر بن خطاب ﷺ ته يو تنكى ځوان راوستل شو، چې په لاره كې وژل شوى و، نو عمر ﷺ چې څومره پوښتنې او پلټنې وكړې، څه ځرک يې ونه موند، نو دا ډېره سخته پرې تمامه شوه، نو ويې ويل: اې الله ته دده په قاتل مې برلاسى كړې، تر دې چې يو كال په پوره كېدو و، چې هغه ځای كې يو نوى زېږېدلى ماشوم پيدا شو، نو عمر ﷺ ته راوړل شو، هغه وويل: د قاتل په پيدا كېدو بريالى شوم، ان شاء الله.

هغه ماشوم يې يوې ښځې ته وركړ او ورته يې وويل: ددې پالنه كوه، هر څه خرڅ يې زه دركوم او دې ته گوره چې ماشوم څوک درڅخه اخلي، نو كه دې داسې ښځه پيدا كړه، چې دا ماشوم يې مچ(ښكل) او په سينه پورې ونښلوه، نو د هغې د ځای په اړه ماته معلومات راكړه. كله چې ماشوم غټ شو، نو يوه مينځه راغله او دغه ښځې ته يې وويل، چې زما باداري(مشرې) زه تاته راولېږم، چې ماشوم هغې ته ولېږې، چې ويې ويني او بېرته يې درته واپس كړي، هغې ښځې ورته وويل: صحيح ده، درسره بويې څه او زه هم درسره يم، نو مينځې ماشوم ځان سره واخيست او ښځه هم ورسره ولاړه، تر څو چې خپلې مشرې ته راورسېدل، كله چې هغې مشرې ماشوم وليد، نو راوايې خيست، ښكل او ځانته يې نږدې كړ او دغه ښځه د رسول الله ﷺ د انصارو صحابه كرامو د يو بوډا لور وه، نو بيا هغه ښځه عمر ﷺ ته راغله او له دې كيسې يې خبر كړ، نو هغه خپله توره راواخيستل او د ښځې د كور طرفته روان شو، گوري چې پلار يې د كور پر دروازې تكيه كړې ده، هغه ته يې وويل چې ستا فلانكۍ لور څه كړي؟ پلار يې وويل:اې امير المؤمنينه! الله عزوجل دې هغې ته د ښو بدله وركړي، هغه داسې ښځه ده چې د الله تعالى او د خپل پلار حقونه يې ښه پېژندلي او له دې سره ښه لمونځ او روژه نيسي او خپل پر دين پوره ولاړه ده، عمر ﷺ وويل: كه ستاسو خوښه وي زه به ورشم، تر څو نور يې هم د خير په كارونو كې وهڅوم، پلار يې داخل شو او عمر

هم ورسره وو، نو عمر ﷺ هغه ټولو كسانو ته چې د هغې سره موجود وه، د وتلو امر وكړ، يوازې دى او هغه ښځه پاتې شوه، دغه وخت كې عمر ﷺ توره ښكاره كړه او ورته يې وويل: يا به رښتيا راته وايې او يا به دې غاړه په توره وهم او عمر ﷺ داسې څوک و، چې خپله خبره كې رښتين و، نو هغې وويل: په دواړو سترگو، په الله قسم چې رښتيا به وايم: يوه بوډۍ ښځه زموږ كور ته راتلله ما هغه د خپلې مور په څېر ومنله او هغې له ما سره داسې چلند كاوه لكه مور چې له خپل اولاد سره كوي او زه هغې ته د لور په رتبه كې وم، چې دغه كې زيات وخت تېر شو، يو وخت هغې وويل:اې لورې! ماته يو سفر په مخ كې دى او په يوځاى كې زما يوه لور ده، نو په هغه وېرېږم چې وركه نه شي، ما غوښتل هغه له سفر څخه تر راستنېدو پورې ستا په خوا كې وساتم، ماته يې يو بې ږيرې هلک راوسته، چې بلكل يې د نجلۍ په شكل برابر كړى وو، هغه له ما سره داسې چلند كاوه لكه څرنگه چې يوه نجلۍ د بلې سره گذاره كوي، تر دې چې يوه ورځ زه ويده وم او په ځان نه پوهېدم چې هغه زما سره نزديكت

وکړ، نو ما خپل لاس بغل ته ترڅنګ پرتې چړې ته اوږد کړ او هغه مې وواژه، بیا مې هغه ځای کې د غوڼځولو امر وکړ، کوم ځای کې چې تاسو موندلی، چې بیا له هغه څخه دغه ماشوم زما په نس شو، کله چې ماشوم پیدا شو، نو هغه مې هم د پلار پر ځای وغوڼځاوه، نو په الله قسم چې په دغه خبرو چې تاته مې وکړې، الله ښه خبر دی. عمر ﷺ وویل: رښتیا دې وویل، بیا یې ځینې توصیې او دعاء ورته وکړه او ورڅخه راووته او پلار ته یې وویل: ستا لور ډېره ښه او نېکه لور ده، چې نور عمر ﷺ بیرته راستون شو.(الطرق الحکمیة، ص:۳۰)

یو بل روایت دی، چې نافع یې د ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه نقلوي، چې عمر ﷺ ناست و، یو سړی یې ولیده، نو ویې ویل: زه به د هیڅ نظر څښتن نه یم، که چېرې دا سړی د کهانت په لټه کې نه و، تاسو یې راته راوغواړئ، نو ورته راوغوښتل شو، ده ورته وویل: آیا تا د کهانت په اړه څه لیدلي او ویلي؟ هغه سړي وویل: هو. (المحل المزبور)

د ده د ځیرکتیا څخه چې له امت څخه تفرد پکښې لري، دا دی، چې وویل: اې د الله رسوله کاش چې مقام ابراهیم سره مو لمونځ کاوه؟ نو دا آیت نازل شو:«وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى» ( البقره: ۱۲۵)

ژباړه: او په کوم ځای کې چې ابراهیم (علیه السلام) د عبادت لپاره درېده، هغه ځای په ځانګړې توګه د لمانځه ځای جوړ کړئ.

همدارنګه ده وویل: اې د الله رسوله! کاش تاسو خپلې ښځې په حجاب امر کړې وای؟ نو د حجاب آیت نازل شو .

په رسول الله ﷺ د هغه مېرمنې د حسد له امله سره راټولې شوې، نو هغوی ته عمر ﷺ وویل:« عَسَى رَبُّهُ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنكُنَّ»[التحریم:۵] نو په همدغه الفاظو آیت نازل شو.

همدارنګه د بدر غزا په ورځ رسول الله ﷺ له ده سره د بندیانو اړوند مشوره وکړه، نو ده یې د وژلو مشوره ورکړه، چې دده د رایې موافق آیت هم نازل شو.( المحل المزبور)

همدارنګه د عمر ﷺ ځیرکتیا څخه یو د ابو مسلم خولاني اړوند دی، چې امام ذهبي روایت کړی؛ چې یمن کې د اسود عنسي په نوم یو چا د نبوت دعوه وکړه، نو ابو مسلم یې راوغوښته او یو غټ اور یې برابر کړ، بیا یې ابو مسلم پکښې واچوه، خو اور هیڅ زیان ور ونه رسوه، نو اسود ته وویل شوه: که چېرې ابو مسلم پسې وانه خلې نو ستا پیرویان به درڅخه بې لارې کړي، نو هغه هم دی له یمن څخه وشړه، نو دی مدینې منورې ته را روان شو او خپله سورلۍ یې ودروله، مسجد ته ننوته، لمونځ یې ادا کاوه چې د عمر ﷺ سترګې پرې برابرې شوې او ور ولاړ شو، ورته یې وویل: تاسو څوک یاست؟ هغه وویل: له یمن څخه یم، عمر وویل: هغه څوک چې د درواغجن(اسود) لخوا په اور وسوځول شو، څه یې وکړل؟ وویل: هغه عبدالله بن ثوب و، عمر ﷺ وویل: ستا دې په الله سوګند وي، چې ته هغه یې؟ وویل: په الله قسم، چې هغه یم، نو عمر ﷺ غاړه ورکړه او ښه یې وژړل، بیا یې ځان سره روان کړ، په هغه ځای کې یې کېناوه چې دده او ابوبکر صدیق ترمنځ و، بیا یې ورته وویل: د الله تعالی ډېر زیات حمد وایم، چې زما په ژوندون یې د محمد ﷺ په امت کې هغه څوک راښکاره کړ، ولیده، چې هغه سره د ابراهیم خلیل الله (علیه السلام) په څېر کار شوی دی.(موسوعة السیر الصلابي، ۸۹/۴)

# په اسلام کې د قضاء تعریف، تاریخ، ارزښت او د قاضي آداب

مولوي بایزید «یون»[۱]

لکه څنګه چې اسلام د عدالت، سولې او یووالي دین دی؛ نو د دې لپاره چې د ظالم لاس لنډ کړي او مظلوم خپل حق ته ورسېږي قضاء ایجاد شوې ده او په اسلام کې خورا لوړ مقام او ارزښت لري.

**د قضاء تعریف:**

په لغت کې د قضاء لپاره بېلا بېلې معناګانې شتون لري چې خلاصه یې داسې ویلای شو: قضاء حکم یا حکم کولو او د حکم نافذولو ته وایي.

او په اصطلاح کې د احنافو په نزد په یوه ځانګړې طریقه د شخړو او منازعاتو حل او فصل کولو ته قضاء وایي.[۲]

**د قضاء تاریخ:**

د اسلام په پیل کې رسول الله (ﷺ) په مدینه منوره کې پخپله د خلکو په منځ کې پرېکړې کولې او د نورو ښارونو لپاره یې قاضیان ټاکلي و او د رسول الله (ﷺ) نه وروسته سیدنا ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) دا ستر مسؤولیت ترسره کولو، خو دا چې ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د خلافت لوی بار پر اوږو درلود او همدا راز شپه او ورځ د اسلام د پراختیا په چارو بوخت و، نو د قضاء په برخه کې یې د سیدنا عمر (رضي الله عنه) څخه مرسته وغوښته او هغه یې د مدینې لپاره قاضي وټاکه.

بیا د دې ادارې په رسمیاتو کې ځینې بدلونونه را منځته شول، چې په دې کې د قضائي ارګان د یوې فقهي نظرېې سره د حکومت کولو ژمنې هم شاملې وې؛ خو دغو بدلونونو د قاضیانو خپلواکي او استقلالیت زیانمن نه کړل.

اسلامي قضاء د وخت په تېرېدو سره وده وکړه تر دې چې د خلفاوو او حاکمانو تر ټولو مهمه دنده د قاضیانو ټاکل او د قضائي دېوانونو جوړول و، تر څو وکولای شي د خلکو په منځ کې شخړې حل کړي، د ظلم مخنیوی وکړي او عدالت تأمین کړي.[۳]

ځینې قُضاتو په دې برخه کې ښېساري هڅې او خدمتونه وکړل چې د هغوی له ډلې د امام اعظم ابوحنیفة (رحمه الله) مشهور شاګرد د خپل وخت قاضي القضات ابو یوسف یعقوب بن إبراهیم، قاضي ابو السائب الهمداني الشافعي، قاضي أبو الحسن الماوردي، قاضي ابن دقیق العید، قاضي بدر الدین ابن جماعة، قاضي تقي الدین السبکي، قاضي تاج الدین السبکي، قاضي سراج الدین البلقیني، شیخ الإسلام زکریا الأنصاري، قاضي عیاض او قاضي أبو الحسن بن القصار المالکي (رحمهم الله) یادولای شو.

**د قضاء ارزښت:**

قضائي ارګان په هر نظام کې د حکومتولۍ د مهمو رکنونو(ستنو) څخه شمېرل کېږي، که څوک غواړي د یوه نظام په سپېڅلتوب یا هم فساد باندې پوه شي نو د هغه نظام قضائي ارګان ته دې نظر وکړي، ودې ګوري چې قضائي ارګان یې څومره خپلواکه او د هغه کړنو څخه پاکه ده چې اسلامي شریعت یې منعه کړې وي. همدا راز حکمونه یې څومره د سپېڅلي شریعت سره سم کړي دي او د خپلو حکمونو په تنفیذ او تطبیق کې تر کومې کچې جدیت او قاطعیت لري.

---

۱- لیکوال او ژباړن

۲ - الموسوعة الفقهیة.

۳ - د دکتور علی الصلابي لیکنه پر "تتمة النظام في تاریخ القضاء في الإسلام من العهد النبوي إلی عهد الإمارة الإسلامیة" لشیخ عبدالحکیم «حقانی».

علماء وايي: محکمه د نظام د زړه حيثيت لري، که چېرې زړه اصلاح و، نو ټول جسد به ورسره اصلاح وي او همدا راز که چېرې زړه فاسد و، نو ټول جسد به ورسره فاسد شي.

د اسلام مقدس دين قضاء ته ځانګړی اهتمام او توجه کړې ده، مخکنيو او معاصرو فقهاء کرامو يې احکام او صفات بيان کړي دي، آن ځينې علماوو د قضاء شان ته د ډېر درنښت له امله يوازې د قضاء اړوند تأليفات او ليکنې کړې.

د قضاء د ارزښت په اړه رسول الله (ﷺ) فرمايي: «إذا حكم الحاكم فاجتهد ثم أصاب فله أجران، وإذا حكم فاجتهد ثم أخطأ فله أجر» [1]

ژباړه: کله چې حاکم يا قاضي اجتهاد وکړي او پرېکړه وکړي، که چېرته حق ته ورسېد نو د ده لپاره دوه اجرونه دي (يو اجر د دې لپاره چې حق ته ورسېد او يو اجر د ده د اجتهاد لپاره دی) او که يې اجتهاد او حکم وکړ او خطا شو، نو د ده لپاره يو اجر دی (يو اجر د ده د اجتهاد لپاره دی).

همدا ډول رسول الله (ﷺ) فرمايي: «لا حسد إلا في اثنين: رجل آتاه الله مالا فسلطه على هلكته في الحق، ورجل آتاه الله حكمة فهو يقضي بها ويعلمها».[2]

ژباړه: حسد نشته مګر په دوو شيانو کې، يو هغه کس ته چې الله (ﷻ) مال ورکړی وي او هغه يې په حق لاره کې مصرف کړي او يو هغه شخص ته چې الله (ﷻ) علم او پوهه ورکړې وي او د خلکو په منځ کې پرېکړې کوي او خلکو ته پوهاوی ورکوي.

**د قاضي آداب:**

د قاضي آداب کوم چې رسول الله (صلى الله عليه و سلم)، خلفاء راشدينو او فقهاء کرامو بيان کړي، ډېر دي چې موږ يې په دې لنډه ليکنه کې نشو يادولای، بناءً يوه مختصره اشاره به ورته وکړو.

قاضي بايد په هغه چارو باندې پابندي ولري چې د قضاء حيثيت يې ساتلی وي، قاضي بايد د ظلم او يا هم ظلم ته د ميلان څخه ځان وساتي، د الله (ﷻ) د حکم سره سم عدالت ترسره کړي، «وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ».[3]

ژباړه: نو کله چې د خلکو په منځ کې پرېکړه کوئ، په عدالت سره يې وکړئ.

ظلم دې رفع کړي، د شبهاتو او تهمتونو څخه د ځان وساتي، قاضي بايد قوي وي پرته له دې چې ظلم وکړي، بايد نرم وي پرته له دې چې ضعيف وي، زورواکی بايد له قاضي څخه په باطل سره د امر کولو تمه ونه لري او نه هم ضعيف شخص د قاضي له عدل څخه تشويش ولري، قاضي بايد صبر او زغم ولري، غفلت به نه کوي، ښه ليدونکی او اورېدونکی به وي، د سيمې د خلکو په ژبه بايد ښه پوه وي، پرهېزګاره به وي، تمه کوونکی به نه وي، ظلم او تکبر کوونکی به نه وي.

حضرت علي (رضى الله عنه) فرمايي: هر قاضي بايد پنځه خصلتونه ولري:

۱- پاک لمنی به وي.

۲- زغم لرونکی به وي.

۳- عالم به وي، کومه موضوع چې ورته وړاندې کېږي په هغه به پوه وي.

۴- د پوهې د خاوندانو سره مشوره کوونکی به وي.

۵- او د الله (ﷻ) په امر کې د ملامت کوونکي د ملامتيا څخه ونه وېرېږي.[4]

په پای کې دعاء کوم چې الله (ﷻ) دې ټولو قُضاتو ته توفيق ورکړي چې د محمدي شريعت سره سم د قضاء چارې ترسره کړي.

---

۱ - متفق عليه.

۲ - متفق عليه.

۳ - د النساء سورت ۵۸.

۴ - أدب القاضي للماوردى ج ۲ ص ۳۹۶، تبصرة الحكام ج ۱ ص ۷۷، معين الحكام ص ۳۶.

# اسلامـــــــــي شريعت د عدالت تضمينوونکی دی

مولوي عبدالکریم شعیب[1]

قضاء په یو حکومت او نظام کې له مهمترینو عهدو څخه ده، چې ورړ او أهل کس ته سپارل کېږي.

په قضاء چې څرنګه په دنیا کې سیاست کېږي، همدا ډول وربانديې د دین ساتنه هم کېږي؛ اهمیت یې له دې هم څرګندېږي چې د اسلام په مبارک دین کې د قاضي صاحب مقررول فرض دي، څرنګه چې الله (ﷻ) په قرآن کریم کې نبي کریم (ﷺ) ته فرمایلي: «وَ أَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِما أَنْزَلَ اللهُ وَ لا تَتَّبِعْ أَهْواءَهُمْ وَ احْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ ما أَنْزَلَ اللهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّما يُرِيدُ اللهُ أَنْ يُصيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَ إِنَّ كَثيراً مِنَ النَّاسِ لَفاسِقُونَ».[2]

ژباړه: او پرېکړه کوه په منځ د دوی کې مطابق د هغه قانون چې الله (ﷻ) نازل کړی او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه او وېره کوه له دوی نه چې په فتنه کې دې وانه چوي، له هغه هدایت څخه چې الله (ﷻ) نازل کړی تا لره او که چېرې دوی مخ واړوي له هغه قانون چې الله (ﷻ) نازل کړی دی، نو پوه شه چې بېشکه اراده لري الله (ﷻ) چې ورسوي دوی ته سزا په سبب د ګناهونو د دوی او بېشکه زیات د خلکو خامخا فاسقان دي.

همدا راز د قضاء اهمیت له دې هم څرګندېږي چې په قضاء سره د مظلوم نصرت کېږي، د ظلم دفعه وربانديې کېږي او د ظالم د ظلم مخنیوی وربانديې کېږي.

د اسلام مبارک او سپېڅلي دین قضاء ته دومره اهمیت ورکړی چې له دې سره سره چې د کائناتو سردار حضرت نبي کریم (ﷺ) پیغمبر و، بشیر او نذیر و، همدغه شان هغه (ﷺ) قاضي هم و او حکم کوونکی په ما انزل الله بانديې هم و.

همدا ډول د اسلام لومړنی خلیفه ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) هم قاضي و، د الله (ﷻ) په کتاب او د رسول الله (ﷺ) په سنتو او قیاس یې د عدل فیصلې کولې؛ کله به چې کومه موضوع د زیات بحث او غور وړ وه، بیا به یې له نورو فقهاوو او صحابه کرامو سره وربانديې مشوره هم کوله.

د اسلام دویم خلیفه حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) هم امیرالمؤمنین و او هم یې قضاوت کاوه، البته د حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) په زمانه کې فتوحات زیات وشول او د اسلامي خلافت واک په نړۍ کې په خپرېدو شو، بیا یې خپله هم قضاء کوله او مستقل قاضیان یې هم مقرر کړل؛ لکه په مدینه منوره کې یې جلیل القدر صحابي حضرت ابو درداء (رضي الله عنه)، په کوفه کې حضرت ابو موسی اشعري (رضي الله عنه) او په بصره کې یې جلیل القدر تابعي قاضي شریح (رضي الله عنه) قاضیان

---

١- د لغمان ولایت مرافعه محمکې رئیس

٢ - سورة المائدة، الایة: ۴۹.

مقرر کړل.

د اسلام مبارک دين چې څومره اهميت قضاء ته ورکړی، همداسې په خيرالقرون زمانه کې د اسلامي خلافتونو په بېلابېلو دورو کې د وخت قاضيان د عدل او انصاف نمونې بللی شو؛ قاضي شريح (رضي الله عنه) ته د اسلام د څلورم خليفه حضرت علي (کرم الله وجهه) دعوی راغله، چې په يوه يهودي يې د نېزې دعوی لرله، يهودي منکر و او ويل يې: نېزه زما ده، خو دا چې حضرت علی (ﷺ) مدعي و او په اسلامي شريعت کې شاهدان په مدعي باندې دي، قاضي شريح حضرت علي (کرم الله وجهه) ته د شاهد وړاندې کولو وويل، هغه وويل: زما شاهد حضرت حسن (ﷺ) دی، قاضي شريح (ﷺ) يې شهادت رد کړ ځکه د زوی شاهدي نه قبلېږي او بل شاهد يې نه لرلو، شريح فيصله له قسم ورکولو وروسته د يهودي په حق کې وکړه؛ يهودي چې کله د اسلام مبارک دين د قاضي عدالت ته کتل چې حضرت علي (کرم الله وجهه) د نبوت د خاندان څخه دی، د هغه دعوی رد شوه او زوی يې هم د نبوت له خاندان څخه دی او شهادت يې قاضي د عدالت د تأمين په موخه رد کړ، خپل وجدان يې ملامت کړ او د حق ويلو هوډ يې وکړ او د مسلمانانو قاضي ته يې وويل: أشهد أن لا اله الا الله و أشهد أن محمد رسول الله، په همدې ځای مسلمان شو او د علي (ﷺ) په حق يې اقرار وکړ چې نېزه د همده ده، خو دا چې يهودي مسلمان شو، حضرت علي (کرم الله وجهه) له نېزې سره سره يو آس هم د جهاد لپاره ورکړ.[1]

امام سيوطي (رحمه الله تعالی) په تاريخ الخلفاء کې يوه واقعه بيان کړې، چې نميرالمدني (رحمه الله) حکايت کوي چې ابوجعفر المنصور مدينې منورې ته راغی او محمد بن عمران الطلحي (رحمه الله) هلته قاضي و؛ يو چا په ابوجعفرالمنصور دعوی وکړه، نميرالمدني (رحمه الله) وايي: دا چې زه د محکمې محرر وم، قاضي صاحب راته وويل: ابو جعفرالمنصور ته جلب پاڼه وليکه او خپله يې وروړه، ما هم جلب پاڼه وليکله او خپله مې وروړه، ربيع چې د مسلمانانو د خليفه سکرتر و، جلب پاڼه يې د مسلمانانو له خليفه سره شريکه کړه او خلکو ته يې وويل: اميرالمؤمنين وايي چې زه قاضي صاحب جلب کړی يم، يوازې ورځمه.

کله چې د قضاء مجلس ته راغی، قاضي په خپل ځای ناست و او له خپله ځايه پورته نه شو، د خلکو دعوی يې واورېدله او په همدغه مجلس کې يې د اميرالمؤمنين ابو جعفر المنصور په خلاف حکم وکړ، کله چې د قضاء مجلس ختم شو، ابو جعفر المنصور ورته وفرمايل: «جزاک الله تعالی عن دينک أحسن الجزاء، و قد أمرت لک بعشرة الاف دينار...».[2]

رواياتو کې راځي چې عبدالملک بن مروان ته يو يهودي راغی او عرض يې وکړ: اې د مسلمانانو اميره! ستا والي ابن هرمز راباندې ظلم کړی، د مسلمانانو خليفه چې فکر يې په ځای نه و د يهودي خبره وانه ورېده، يهودي بيا وويل: اې د مسلمانانو اميره! ما په تورات کې ليدلي چې امير او حاکم تر هغو په ظلم کې شريک نه دي، تر څو پورې چې موضوع ورته رانه شي او کله چې موضوع ورته راشي او امير يا حاکم ورباندې خبر شي او د ظلم مخنيوی ونه کړي بيا همدغه امير او حاکم هم په ظلم کې شريک شي؛ عبدالملک بن مروان وارخطا شو او خپل والي ابن هرمز يې راوغوښت، کله چې د هغه ظلم په يهودي ورمعلوم شو، سمدلاسه يې عزل کړ.[3]

فضل بن الربيع د هارون رشيد (رحمه الله تعالی) وزير و، چې

---

۱ - حکمة التشريع وفلسفته للشيخ علي أحمدالجرجاوي ج۲ ص۱۰۲.

۲ - تاريخ الخلفاء للامام السيوطي ص ۲۶۶، بتغير يسير.

۳ - حکمة التشريع وفلسفته ص۱۰۴.

د امام ابو یوسف (رحمه الله تعالی) په مخ کې یې شاهدي ورکړه، امام ابو یوسف (رحمه الله تعالی) یې شهادت رد کړ، د مسلمانانو خلیفه امام ابو یوسف ته وویل: ولې دې د هغه شهادت رد کړ؟ امام ابو یوسف (رحمه الله تعالی) ورته وفرمایل: دغه وزیر یوه ورځ ستا په مجلس کې د مسلمانانو خلیفه ته وویل: انا عبدک (زه ستا مریي یم)، نو ستا دا وزیر به یا ستا مریي وي او یا نه، که د مریي وي نو د مریي شهادت شرعا د قبول وړ نه دی او که نه وي، بیا ستا دا وزیر دروغجن دی او د دروغجن شهادت هم د قبول وړ نه دی؛ امام ابو یوسف (رحمه الله) زیاته کړه، دا چې ستا په مجلس کې د دروغو پروا نه لري، دا بیا زما د قضاء په مجلس کې هم د دروغو پروا نه کوي. دې وخت کې د مسلمانانو خلیفه هارون الرشید د قاضي صاحب په مخکې عرض وکړ، چې که زه شاهدي ووایم د قبول وړ ده؟ امام ابو یوسف (رحمه الله) وفرمایل: نه، له تا څخه په جمعه کې سستي کېږي. هارون الرشید ورته عرض وکړ: زه د مسلمانانو په مصالحو مصروف یم، امام ابو یوسف (رحمه الله) دغه حدیث شریف ورته ولوست: «لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق».[۱]

ژباړه: په نافرمانۍ د خالق کې د مخلوق پیروي نشته.

بیا به له دې وروسته هارون الرشید (رحمه الله تعالی) د جماعت د لمانځه زیات خیال ساته.

دا د اسلامي شریعت د قاضیانو هغه عدل او انصاف په ګوته کوي چې د حق په باب یې د هېچا خاطر نه کاوه، روایاتو کې راځي چې عاقبة بن یزیدالقاضي (رحمه الله تعالی) د مسلمانانو د خلیفه مهدي بالله په عصر کې قاضي و، یوه ورځ د ماپښین په وخت کې چې د مسلمانانو خلیفه مهدي بالله یوازې ناست و، ورته راغی، اجازه یې وغوښته او اجازه ورکړل شوه، بیا یې د مسلمانانو خلیفه ته عرض وکړ چې زه دغه د مسلمانانو دوسیې او فیصلې چاته تسلیم کړم؟ او ته به زما استعفاء قبوله کړې او ما به له قضاء عزل کړې! د مسلمانانو خلیفه دا محسوسه کړه چې غالباً څوک یې په چارو کې مداخله کوي، نو یې قاضي صاحب ته وویل: که څوک دې په چارو کې مداخله کوي هغه ماته وښایه! چې مهار یې کړم، قاضي صاحب ورته وویل: هېڅوک مداخله نه کوي، خلیفه مهدي بالله ورته وویل: نو بیا ستا د استعفاء وجه څه ده؟ قاضي صاحب ورته وویل: میاشت مخکې په یوه دعوی کې دوه خصمین راغلل او هر یوه د بینه، شهودو او حجتونو د وړاندې کولو ادعا لرله، بناءً موضوع یې د فکر وړ وه، ما جانبین ولېږل او تمه مې وه چې ممکن ترخپل منځ به سوله وکړي، په دې وخت کې د دعوی یوه طرف اورېدلي، چې د قاضي صاحب له تازه کجورو سره جوړه ده، دغه ده چې زما خادم ته یې رشوت ورکړی او تازه خرماوې یې چې په عربي کې «رطب» ورته وایي، په یوه لوښي کې ورکړې او زما مخې ته یې کېښودې، ما خپل خادم ته غوسه وکړه او هغه لوښی مې رد کړ، کله چې سبا ته د دعوی طرفین راغلل، ما یې په زړه او نظر کې مساوات نشو کولای، حال دا چې ماېې هدیه هم نه وه اخیستې، نو امیرالمؤمنینه! که له چا څخه هدیه واخلم حال به مې څه وي؟! خلک فاسد شوي، حیله ګر شوي، ما وبخښه! الله (ﷻ) دې تا وبخښي....[۲]

له مخکې مضمون څخه باید دا زده کړو چې د مسلمانانو قاضي باید څومره حقبین وي، په پای کې له الله (ﷻ) د اسلامي امارت قضاتو ته د سم قضاوت د توفیق ورکولو دعاکوم: والله علی ما نقول وکیل....!

---

۱ - رواه احمد وصححه الالباني.

۲ - حكمة التشريع وفلسفته ص ۱۰٦.

# غلا او مسایل یې

## درېیم بحث: د حرز بیان

لیکنه: مولوي عبدالکریم «الکریمي[1]»

### درېیمه برخه

**د حرز ډولونه:**

حرز (حفاظت) په دوه ډول دی:

۱- په ځان حرز، چې په مکان حرز هم ور ته وایي، دا هغه ځای دی چې د شیانو د حفاظت لپاره تیار شوی وي او پرته له اجازې ور ننوتل منعه وي، لکه: کور، بند دکان، خېمه، الماری، صندوق، درمن ځای، د پسونو ګاش او داسې نور، په دغو ځایونو سره هر قسم مال محفوظ بلل کېږي، که یې دروازه خلاصه وي او که بنده او که آن له سره دروازه ونه لري؛ ځکه د دغو ځایونو جوړېدل د احراز او حفاظت په موخه وي. همداسې د یادو ځایونو لپاره د محافظ وجود هم معتبر نه دی، وجود او نه وجود یې علی السویة دی؛ ځکه یاد شیان په مکان محرز سره بلل کېږي، که دې ځای ته د ننوتلو اجازه چا ته وشي، نو په ځای کې موجود مالونه په ولاړ محافظ محرز نه بلل کېږي، نو که مجاز سړی د یاد ځای څخه مالونه غلا کړي، خائن بلل کېږي او حد نه پرې جاري کېږي، آن که یې په یاد کور کې د یوه قفل صندوق څخه واخلي هم حد نه پرې جاري کېږي؛ ځکه ټول کور یو حرز بلل کېږي او په هغه کې ده ته د ننوتلو اجازه شوې.

۲- په بل چا حرز، چې محافظ حرز هم ور ته وایي، دا هغه ځای دی چې د شیانو د حفاظت لپاره نه وي تیار شوی او پرته له اجازې څوک ور ننوتلای شي، لکه: مسجد، لارې، بازار او داسې نور، په یادو ځایونو کې مالونه محرز نه دي، ځکه نو د یادو ځایونو څخه په غلا په سارق حد نه جاري کېږي، البته که خاص د حفاظت په پار محافظ ورباندې ودرول شي او هغه یاد مال ته دومره نږدې وي چې مال ویني، نو په هغه سره حرز راځي (که څه هم بیده وي)، نو که د محافظ د شتون په وخت یو غل د نصاب په اندازه مالونه غلا کړي او د غلا نور شرطونه پوره وي، حد پرې جاري کېږي.[2]

---

۱- د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو ریاست مدقق

۲ - بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (۷/ ۷۳): «ثم الحرز نوعان: حرز بنفسه، وحرز بغیره.

(أما) الحرز بنفسه فهو: كل بقعة معدة للإحراز ممنوعة الدخول فيها إلا بالإذن: كالدور، والحوانيت، والخيم، والفساطيط، والخزائن، والصناديق.

(وأما) الحرز بغيره: فكل مكان غير معد للإحراز يدخل إليه بلا إذن، ولا يمنع منه كالمساجد، والطرق، وحكمه حكم الصحراء إن لم يكن هناك حافظ.

وإن كان هناك حافظ فهو حرز؛ لهذا سمي حرزا بغيره حيث وقف صيرورته حرزا على وجود غيره، وهو الحافظ، وما كان حرزا بنفسه لا يشترط فيه وجود الحافظ لصيرورته حرزا، ولو وجد فلا عبرة بوجوده، بل وجوده، والعدم سواء»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۷۳): «فإذا سرق من النوع الأول يقطع سواء كان ثمة حافظ، أو لا لوجود الأخذ من الحرز.

وسواء كان مغلق الباب، أو لا باب له بعد أن كان محجوزا بالبناء؛ لأن البناء يقصد به الإحراز كيف ما كان، وإذا سرق من النوع الثاني يقطع إذا كان الحافظ قريبا منه في مكان يمكنه حفظه، ويحفظ في مثله المسروق عادة، وسواء كان الحافظ مستيقظا في ذلك المكان، أو نائما؛ لأن الإنسان يقصد الحفظ في الحالين جميعا»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۷۴): «وروي عن أبي يوسف أنه قال في رجل كان في حمام، أو خان، وثيابه تحت رأسه فسرقها

## څلورم بحث: د غلا د اثبات طريقې

هغه غلا چې حد پرې جاري کېږي، په دوو طريقو ثابتېږي:

سارق: إنه لا قطع عليه، سواء كان نائما أو يقظانا، وإن كان في صحراء، وثوبه تحت رأسه قطع، وكذلك روي عن محمد في رجل سرق من رجل، وهو معه في الحمام، أو سرق من رجل، وهو معه في سفينة، أو نزل قوم في خان فسرق بعضهم من بعض أنه لا قطع على السارق، وكذلك الحانوت؛ لأن الحمام، والخان، والحانوت كل واحد حرز بنفسه، فإذا أذن للناس في دخوله خرج من أن يكون حرزا فلا يعتبر فيه الحافظ فلا يصير حرزا بالحافظ؛ ولهذا قالوا: إذا سرق من الحمام ليلا يقطع؛ لأن الناس لم يؤذنوا بالدخول فيه ليلا فأما الصحراء، أو المسجد - وإن كان مأذون الدخول إليه - فليس حرزا بنفسه، بل بالحافظ، ولم يوجد الإذن من الحافظ فلا يبطل معنى الحرز فيه.»

«وروي عن محمد في رجل سرق في السوق من حانوت فتخرب الحانوت، وقعد للبيع، وأذن للناس بالدخول فيه أنه لم يقطع، وكذلك لو سرق منه، وهو مغلق على شيء لم يقطع لأنه لما أذن للناس بالدخول فيه فقد أخرج الحانوت من أن يكون حرزا في حقهم، وكذلك إن أخذ من بيت قبة، أو صندوق فيه مقفل؛ لأن الحانوت كله حرز واحد كالدار على ما مر.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣١٧-٣١٨-٣١٩): «وَقَدْ ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ إِلَى أَنَّ حَدَّ السَّرِقَةِ لَا يُقَامُ إِلاَّ إِذَا أَخَذَ السَّارِقُ النِّصَابَ مِنْ حِرْزِهِ؛ لأَنَّ الْمَال غَيْرُ الْمُحْرَزِ ضَائِعٌ بِتَقْصِيرٍ مِنْ صَاحِبِهِ.»

«وَالْحِرْزُ نَوْعَانِ:

١ - حِرْزٌ بِنَفْسِهِ، وَيُسَمَّى حِرْزًا بِالْمَكَانِ: وَهُوَ كُل بُقْعَةٍ مُعَدَّةٍ لِلإِحْرَازِ، يَمْنَعُ الدُّخُول فِيهَا إِلاَّ بِإِذْنٍ، كَالدَّارِ وَالْبَيْتِ.

٢ - وَحِرْزٌ بِغَيْرِهِ، وَيُسَمَّى حِرْزًا بِالْحَافِظِ: وَهُوَ كُل مَكَانٍ غَيْرُ مُعَدٍّ لِلإِحْرَازِ، لاَ يَمْنَعُ أَحَدٌ مِنْ دُخُولِهِ، كَالْمَسْجِدِ وَالسُّوقِ.»

«٣٨ - أ - فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّ الْحِرْزَ نَفْسَهُ: كُل بُقْعَةٍ مُعَدَّةٍ لِلإِحْرَازِ بِمَنْعِ دُخُولِهَا إِلاَّ بِإِذْنٍ، كَالدُّورِ وَالْحَوَانِيتِ وَالْخِيَمِ وَالْخَزَائِنِ وَالصَّنَادِيقِ وَالْجُرْنِ وَحَظَائِرِ الْمَاشِيَةِ، سَوَاءٌ كَانَ الْبَابُ مُغْلَقًا أَوْ مَفْتُوحًا، أَوْ لاَ بَابَ لَهَا؛ لأَنَّ هَذِهِ الأَبْنِيَةَ قُصِدَ بِهَا الإِحْرَازُ كَيْفَمَا كَانَ. وَلاَ يُشْتَرَطُ فِي الْحِرْزِ بِنَفْسِهِ عِنْدَهُمْ وُجُودُ الْحَافِظِ، وَلَوْ وُجِدَ فَلاَ عِبْرَةَ بِوُجُودِهِ، وَيَتَرَتَّبُ عَلَى ذَلِكَ: أَنَّ الْحِرْزَ بِنَفْسِهِ إِذَا اخْتَل، بِأَنْ أَذِنَ لِلسَّارِقِ فِي دُخُولِهِ، فَلاَ يُقَامُ حَدُّ السَّرِقَةِ، وَلَوْ كَانَ فِيهِ حَافِظٌ. وَعَلَى هَذَا: لاَ يُقَامُ حَدُّ السَّرِقَةِ عَلَى الضَّيْفِ، لأَنَّ الإِذْنَ لَهُ بِالدُّخُول أَحْدَثَ خَلَلاً فِي الْحِرْزِ، وَلاَ عَلَى الْخَادِمِ؛ لأَنَّ فِعْلَهُ يُوصَفُ بِالْخِيَانَةِ، وَلَيْسَ عَلَى الْخَائِنِ قَطْعٌ، وَلاَ عَلَى مَنْ يَسْرِقُ مِنَ الْحَوَانِيتِ فِي فَتَرَاتِ الإِذْنِ بِالدُّخُول، بِخِلاَفِ مَا لَوْ سَرَقَ فِي وَقْتٍ غَيْرِ مَأْذُونٍ فِيهِ.

وَالسَّرِقَةُ مِنَ الْحِرْزِ بِنَفْسِهِ لاَ تَشْمَل سَرِقَةَ الْحِرْزِ نَفْسِهِ؛ لأَنَّ السَّرِقَةَ تَقْتَضِي الإِخْرَاجَ مِنَ الْحِرْزِ، وَنَفْسُ الْحِرْزِ لَيْسَ فِي الْحِرْزِ، فَلاَ إِخْرَاجَ. وَبِنَاءً عَلَى ذَلِكَ: لَوْ سَرَقَ بَابَ الدَّارِ، أَوْ حَائِطَ الْحَانُوتِ، أَوِ الْخَيْمَةَ الْمَضْرُوبَةَ، فَلاَ يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ؛ لأَنَّهُ سَرَقَ نَفْسَ الْحِرْزِ، وَلَمْ يَسْرِقْ مِنَ الْحِرْزِ.

أَمَّا الْحِرْزُ بِغَيْرِهِ: فَهُوَ كُل مَكَانٍ غَيْرُ مُعَدٍّ لِلإِحْرَازِ، يَدْخُل إِلَيْهِ بِدُونِ إِذْنٍ وَلاَ يُمْنَعُ مِنْهُ، كَالْمَسَاجِدِ وَالطُّرُقِ وَالأَسْوَاقِ، وَهِيَ لاَ تُعْتَبَرُ حِرْزًا إِلاَّ إِذَا كَانَ عَلَيْهَا حَافِظٌ، أَيْ شَخْصٌ لَيْسَ لَهُ مِنْ مَقْصِدٍ سِوَى الْحِرَاسَةِ وَالْحِفْظِ، فَإِنْ كَانَ لَهُ مَقْصِدٌ آخَرُ فَلاَ يَكُونُ الْمَال مُحْرَزًا بِهِ.

وَبِنَاءً عَلَى ذَلِكَ: لاَ يُقَامُ الْحَدُّ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ عَلَى مَنْ يَسْرِقُ الْمَاشِيَةَ مِنَ الْمَرْعَى، وَلَوْ كَانَ الرَّاعِي مَعَهَا؛ لأَنَّ عَمَل الرَّاعِي هُوَ الرَّعْيُ، وَالْحِرَاسَةُ تَحْصُل تَبَعًا لَهُ، بِخِلاَفِ مَا لَوْ كَانَ مَعَ الرَّاعِي حَافِظٌ يَخْتَصُّ بِالْحِرَاسَةِ، فَفِي هَذِهِ الْحَالَةِ تَكُونُ الْمَاشِيَةُ مُحْرَزَةً بِالْحَافِظِ، فَيُقَامُ الْحَدُّ.

وَلاَ يُقَامُ الْحَدُّ عَلَى مَنْ سَرَقَ مَتَاعًا تَرَكَهُ صَاحِبُهُ فِي الْمَسْجِدِ؛ لأَنَّ الْمَسْجِدَ لاَ يُعْتَبَرُ مِنَ الأَمَاكِنِ الْمُعَدَّةِ لِحِفْظِ الأَمْوَال، وَيَدْخُل إِلَيْهِ بِلاَ إِذْنٍ، فَأَمَّا إِذَا سَرَقَ الْمَتَاعَ حَالَةَ وُجُودِ الْحَافِظِ، فَيُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ، لِمَا رُوِيَ مِنْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ يَدَ سَارِقِ خَمِيصَةِ صَفْوَانَ، وَكَانَ نَائِمًا عَلَيْهَا فِي الْمَسْجِدِ. وَلاَ يُقَامُ الْحَدُّ عَلَى مَنْ يَسْرِقُ الْحِرْزَ بِالْحَافِظِ: كَمَنْ يَسْرِقُ بَعِيرًا، وَرَاكِبُهُ نَائِمٌ فَوْقَهُ؛ لأَنَّ الْبَعِيرَ مُحْرَزٌ بِالْحَافِظِ، فَإِذَا أَخَذَهُمَا جَمِيعًا صَارَ كَمَنْ يَسْرِقُ نَفْسَ الْحِرْزِ.

وَعِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ يُعْتَبَرُ الْمَكَانُ مُحْرَزًا بِالْحَافِظِ كُلَّمَا كَانَ الشَّيْءُ وَاقِعًا تَحْتَ بَصَرِهِ، مُمَيِّزًا أَمْ غَيْرَ مُمَيِّزٍ؛ لأَنَّهُ وُجِدَ لِلْحِفْظِ وَيَقْصِدُهُ. وَعَلَى ذَلِكَ: فَإِنَّ مَا يَلْبَسُهُ الإِنْسَانُ أَوْ يَحْمِلُهُ أَوْ يَرْكَبُهُ أَوْ يَقَعُ تَحْتَ بَصَرِهِ مِنْ مَتَاعٍ أَوْ غَيْرِهِ، يُعْتَبَرُ مُحْرَزًا بِحَافِظٍ، يُقَامُ الْحَدُّ عَلَى مَنْ يَسْرِقُ مِنْهُ مَا يَبْلُغُ النِّصَابَ.

وَيَرَى الْحَنَفِيَّةُ أَنَّ الْمَسْجِدَ يُعْتَبَرُ حِرْزًا بِالْحَافِظِ، فَإِذَا لَمْ يَكُنْ بِهِ حَارِسٌ وَسَرَقَ شَخْصٌ شَيْئًا مِمَّا يَلْزَمُ الْمَسْجِدَ ضَرُورَةً، كَالْحُصْرِ وَالْقَنَادِيل،

شهادت.

اقرار.

**لومړی شهادت:**

د نورو قضیو په شان د غلا حد هم په شهادت ثابتېږي، البته د حدودو او قصاص د اثبات شاهدان ځینې ځانګړتیاوې او شرطونه لري، چې په لاندې ډول دي:

یوازې د نارینه وو شاهدي قبلېږي، د ښځو شاهدي په مطلقه توګه نه قبلېږي.

یوازې د عادلانو شاهدي قبلېږي، د فاسقانو او مستور الحال شاهدي نه قبلېږي.

یوازې د اصولو شاهدانو شاهدي قبلېږي، د فرعي شاهدانو شاهدي (شهادة علی الشهادة) نه قبلېږي.

تازه شاهدي قبلېږي، که پر قضیه وخت تېر شي، بیا (د حد قذف څخه پرته) شاهدي نه قبلېږي.

مسروق منه یا هغه څوک چې صحیحه ذوالیدي لري هغه به خصومت او دعوی کوي.[۱]

ځکه نو د غلا د حد د اثبات شهود به د اداء په وخت مسلمانان، نارینه، بالغان، عاقلان، ازاد، بینا، عادلان او اصیلان وي، د ښځو، فاسقانو او د فرعي شاهدانو شاهدي (شهادة علی الشهادة) د غلا په حد کې نه صحیح کېږي؛ ځکه د دوی په شهادت کې زیاته شبه ده چې په حدودو کې یې د تحمل ضرورت نشته، البته د مال په حق کې د نارینه سره یو ځای ښځې هم شاهدي اداء کولای شي (ښځې یې په یوازې توګه نه په حد او نه په مال کې اداء کولای

---

أَوْ لِلزِّينَـةِ كَالْعَلَـمِ وَالْمِشْـكَاةِ، أَوْ لِلِانْتِفَـاعِ بِـهِ كَالْمُصْحَـفِ وَكُتُـبِ الْعِلْمِ، فَلَا يُقَامُ عَلَيْـهِ الْحَدُّ؛ لِانْعِدَامِ الْحِـرْزِ، بِخِلَافِ مَا لَوْ كَانَ لِلْمَسْـجِدِ حَارِسٌ، فَإِنَّـهُ يَكُونُ مُحْـرَزًا بِـهِ.»

الفتاوی الهندية (۲/ ۱۷۹): «الْحِرْزُ عَلَى ضَرْبَيْنِ:

(حِـرْزٌ لِمَعْنًـى فِيـهِ) كَالْبُيُـوتِ، وَالدُّورِ، وَيُسَـمَّى هَذَا حِـرْزًا بِالْمَكَانِ، وَكَذَلِكَ الْفَسَـاطِيطُ، وَالْحَوَانِيتُ، وَالْخِيَمُ كُلُّ هَذِهِ الْأَشْـيَاءِ تَكُونُ حِرْزًا، وَإِنْ لَمْ يَكُـنْ فِيهَا حَافِظٌ سَـوَاءٌ سَرَقَ مِـنْ ذَلِـكَ، وَهُـوَ مَفْتُوحُ الْبَـابِ، أَوْ لَا بَابَ لَـهُ؛ لِأَنَّ الْبِنَاءَ يُقْصَدُ بِـهِ الْإِحْرَازُ إلَّا أَنَّهُ لَا يَجِـبُ الْقَطْعُ إلَّا بِالْإِخْـرَاجِ بِخِلَافِ الْحِـرْزِ بِالْحَافِظِ حَيْـثُ يَجِـبُ الْقَطْعُ فِيهِ بِمُجَـرَّدِ الْأَخْذِ.

(وَحِـرْزٌ بِالْحَافِظِ) كَمَـنْ جَلَـسَ فِي الطَّرِيـقِ، أَوْ فِي الصَّحْـرَاءِ، أَوْ فِي الْمَسْـجِدِ، وَعِنْـدَهُ مَتَاعُـهُ فَهُـوَ مُحْـرَزٌ بِـهِ هَـذَا إذَا كَانَ الْحَافِظُ قَرِيبًا مِنْـهُ، وَأَمَّا إذَا بَعُـدَ فَلَيْـسَ بِحَافِـظٍ، وَحَـدُّ الْقُـرْبِ أَنْ يَكُـونَ بِحَيْـثُ يَـرَاهُ، وَيَحْفَظُهُ، وَلَا فَرْقَ بَـيْنَ أَنْ يَكُونَ الْحَـافِظُ مُسْـتَيْقِظًا، أَوْ نَائِمًا، وَالْمَتَاعُ تَحْتَـهُ، أَوْ عِنْدَهُ هُـوَ الصَّحِيحُ، كَـذَا فِي السِّـرَاجِ الْوَهَّاجِ.»

الفتـاوی الهنديـة (۲/ ۱۸۱): «اتَّخَـذَ حَظِيـرَةً مِـنْ حَجَـرٍ، أَوْ شَـوْكٍ، وَجَمَـعَ فِيهَـا الْأَغْنَـامَ، وَهُـوَ نَائِـمٌ عِنْدَهَـا يُقْطَـعُ سَـارِقُهَا قَـالَ مُحَمَّـدٌ - رَحِمَـهُ اللَّـهُ تَعَـالَى - إذَا جَمَـعَ الْغَنَـمَ فِي حَظِـيرَةٍ، أَوْ فِي غَـيْرِ حَظِـيرَةٍ، وَعَلَيْهَا حَافِـظٌ، أَوْ لَيْـسَ عَلَيْهَـا حَافِـظٌ بَعْـدَ أَنْ جَمَعَهَـا فِي مَوْضِـعٍ قُطِـعَ سَـارِقُهَا، كَذَا فِي الْحَـاوِي وَعَامَّـةُ الْمَشَـايِخِ - رَحِمَهُـمْ اللَّـهُ تَعَـالَى - عَـلَى أَنَّـهُ إذَا جَمَعَهَـا فِي مَـكَانٍ أُعِـدَّ لِحِفْظِهَـا فَـسَرَقَ رَجُـلٌ مِنْهَـا فَعَلَيْـهِ الْقَطْـعُ سَـوَاءٌ كَانَ مَعَهَا حَافِـظٌ، أَوْ لَـمْ يَكُـنْ، كَـذَا فِي الْمُحِيـطِ وَهُـوَ الصَّحِيـحُ هَكَـذَا فِي الذَّخِيرَةِ.»

«وَفِي الْمُحْرَزِ بِالْمَكَانِ لَا يُعْتَبَرُ الْإِحْرَازُ بِالْحَافِظِ هُوَ الصَّحِيحُ، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ.»

«وَفِي الْكَرْخِـيِّ مَـا كَانَ حِـرْزًا لِنَـوْعٍ فَهُـوَ حِـرْزٌ لِـكُلِّ نَـوْعٍ حَتَّى جَعَلُـوا شَرِيجَةَ الْبَقَّـالِ، وَقَوَاصِرَ التَّمْـرِ حِـرْزًا لِلدَّرَاهِمِ، وَالدَّنَانِـيرِ، وَاللُّؤْلُؤِ قَـالَ، وَهُوَ صَحِيـحٌ، كَـذَا فِي السِّـرَاجِ الْوَهَّـاجِ قَـالَ شَـمْسُ الْأَئِمَّةِ هَذَا هُـوَ الْمَذْهَـبُ عِنْدَنَا، كَـذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ.»

۱ - الفتـاوی الهنديـة (۲/ ۱۸۳): «وَلَا يُقْطَـعُ السَّـارِقُ إلَّا أَنْ يَحْـضُرَ الْمَـسْرُوقُ مِنْـهُ فَيُطَالِبَ بِالسَّرِقَةِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُـفَ - رَحِمَـهُ اللَّـهُ تَعَالَى - أَقْطَعُهُ، وَالصَّحِيـحُ ظَاهِـرُ الرِّوَايَـةِ، كَـذَا فِي زَادِ الْفُقَهَـاءِ. وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الشَّـهَادَةِ، وَالْإِقْـرَارِ عِنْدَنَا، وَكَذَا إنْ غَـابَ عِنْدَ الْقَطْعِ عِنْدَنَا، كَـذَا فِي الْهِدَايَةِ.»

شي).

د شهادت تر اداء وروسته به قاضي صاحب د شاهدانو څخه هغه پوښتنې وکړي کومې چې لاندې په اقرار کې ليکل کېږي، البته د شاهدانو څخه به د وخت په اړه هم پوښتنه کوي، که يې ټولې پوښتنې سمې ځواب کړې، بيا به قاضي سارق تر هغه وخته بندي کړي تر څو چې د شاهدانو تزکيه کېږي.[1]

**دويم اقرار:**

د شاهدۍ په شان په اقرار هم د غلا حد ثابتېږي؛ ځکه انسان د خپل ځان په تاوان اقرار نه کوي، نو دا ددې دليل

---

۱ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۸۱): «وأما بيان ما تظهر به السرقة عند القاضي فنقول: - وبالله التوفيق - السرقة الموجبة للقطع عند القاضي تظهر بأحد أمرين: أحدهما: البينة، والثاني: الإقرار.

أما البينة فتظهر بها السرقة إذا استجمعت شرائطها؛ لأنها خبر يرجح فيه جنبة الصدق على جنبة الكذب فيظهر المخبر به، وشرائط قبول البينة في باب السرقة بعضها يعم البينات كلها، قد ذكرنا ذلك في كتاب الشهادات، وبعضها يخص أبواب الحدود، والقصاص، وهو الذكورة، والعدالة، والأصالة فلا تقبل فيها شهادة النساء، ولا شهادة الفساق، ولا الشهادة على الشهادة؛ لأن في شهادة هؤلاء زيادة شبهة، لا ضرورة إلى تحملها فيما يحتال لدفعه، ويحتاط لدرئه، وكذا عدم تقادم العهد إلا في حد القذف، والقصاص حتى لو شهدوا بالسرقة بعد حين لم تقبل ولا يقطع، ويضمن المال، والأصل أن التقادم يبطل الشهادة على الحدود الخالصة، ولا يبطلها على حد القذف، ولا يبطل الإقرار أيضا.

والفرق ذكرناه في كتاب الحدود، وإنما ضمن المال؛ لأن التقادم إنما يمنع من الشهادة على الحدود الخالصة للشبهة، والشبهة تمنع وجوب الحد، ولا تمنع وجوب المال، وبعضها يخص أرباب الأموال والحقوق، وهو الخصومة، والدعوى ممن له يد صحيحة، حتى لو شهدوا أنه سرق من فلان الغائب لم تقبل شهادتهم ما لم يحضر المسروق منه ويخاصم لما ذكرنا أن كون المسروق ملكا لغير السارق شرط لكون الفعل سرقة ولا يظهر ذلك إلا بالخصومة فإذا لم توجد الخصومة لم تقبل شهادتهم، ولكن يحبس السارق؛ لأن إخبارهم أورث تهمة»

الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۴/ ۳۳۴): «۵۹ - تَثْبُتُ السَّرِقَةُ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ تَتَوَافَرُ فِيهِمَا شُرُوطُ تَحَمُّل الشَّهَادَةِ وَشُرُوطُ أَدَائِهَا.

وَعَلَى ذَلِكَ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ الشَّاهِدُ وَقْتَ الأَدَاءِ ذَكَرًا، مُسْلِمًا، بَالِغًا، عَاقِلاً، حُرًّا بَصِيرًا، عَدْلاً، مُخْتَارًا.»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۳): «وَإِذَا كَانَ ظُهُورُ السَّرِقَةِ بِالشَّهَادَةِ فَإِنَّهُ يُشْتَرَطُ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَدْلَيْنِ، وَلَا يُكْتَفَى بِشَهَادَةِ النِّسَاءِ بِانْفِرَادِهِنَّ لَا فِي حَقِّ الْقَطْعِ، وَلَا فِي حَقِّ الْمَالِ، وَأَمَّا شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ فَهِيَ مَقْبُولَةٌ فِي حَقِّ الْمَالِ عِنْدَنَا غَيْرُ مَقْبُولَةٍ فِي حَقِّ الْقَطْعِ، وَكَذَا الشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ تُقْبَلُ عَلَى الْمَالِ، وَلَا تُقْبَلُ عَلَى الْقَطْعِ، وَإِذَا شَهِدَ رَجُلَانِ عَدْلَانِ بِذَلِكَ فَالْقَاضِي يَقْبَلُ الشَّهَادَةَ عَلَى الْمَالِ، وَالْقَطْعِ جَمِيعًا، وَيَسْأَلُ الشَّاهِدَيْنِ عَنْ مَاهِيَّةِ السَّرِقَةِ ثُمَّ يَسْأَلُهُمَا عَنْ الْمَسْرُوقِ عَنْ جِنْسِهِ، وَعَنْ مِقْدَارِهِ، إذَا لَمْ يَكُنْ حَاضِرًا فِي الْمَجْلِسِ، فَأَمَّا إذَا كَانَ حَاضِرًا فِي الْمَجْلِسِ فَلَا يَسْأَلُهُمَا عَنْ الْمَسْرُوقِ جِنْسًا، وَقَدْرًا، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إلَى السَّرِقَةِ عَلَى نَحْوِ مَا قُلْنَا فِي فَصْلِ الْإِقْرَارِ ثُمَّ يَسْأَلُهُمَا كَيْفَ سَرَقَ، وَيَسْأَلُهُمَا عَنْ الْمَكَانِ، وَالْوَقْتِ، وَالْمَسْرُوقِ مِنْهُ أَيْضًا فَإِذَا نَهَيْنَا جُمْلَةَ ذَلِكَ، وَعَرَفَ الْقَاضِي الشُّهُودَ بِالْعَدَالَةِ قَضَى عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ، وَإِنْ لَمْ يَعْرِفْ الشُّهُودَ بِالْعَدَالَةِ فَإِنَّهُ لَا يَقْضِي بِالْقَطْعِ مَا لَمْ يَتَعَرَّفْ عَنْ حَالِ الشُّهُودِ بِالسُّؤَالِ مِنْ الْمُزَكَّى، وَيَحْبِسُ السَّارِقَ إلَى أَنْ تَظْهَرَ عَدَالَةُ الشُّهُودِ، فَإِنْ عُدِّلَتْ الشُّهُودُ بَعْدَمَا حُبِسَ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ إنْ كَانَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ حَاضِرًا يَقْضِي الْقَاضِي بِالْقَطْعِ، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا لَا يَقْضِي بِالْقَطْعِ، فَإِنْ كَانَ حَاضِرًا، فَقَضَى عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ ثُمَّ غَابَ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْقَطْعِ لَمْ يَذْكُرْ مُحَمَّدٌ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - هَذَا الْفَصْلَ فِي الْكِتَابِ، وَقَدْ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ - رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى - فِيهِ بَعْضُهُمْ قَالُوا يَجِبُ أَنْ يَكُونَ لِأَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - فِيهِ قَوْلَانِ عَلَى قَوْلِهِ الْأَوَّلِ لَا يَسْتَوْفِي الْقَطْعَ، وَعَلَى قَوْلِهِ الْآخَرِ يَسْتَوْفِي، وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ غَيْبَةُ الْمَسْرُوقِ مِنْهُ تَمْنَعُ الِاسْتِيفَاءَ عَلَى قَوْلِهِ الْأَوَّلِ، وَالْآخَرِ جَمِيعًا.»

دی چې نوموړی په خپل اقرار کې رښتینی دی.[1]

**د حد په اړه د اقرار ځینې شرطونه:**

د حد د اثبات اقرار د نورو قضیو د اثبات د اقرار سره لږ توپیر لري، چې یو لړ عام او خاص شرطونه یې په لاندې ډول دي:

عموما په اقرار کې د مقر اختیار شرط دی، نو لازمه ده چې یو غل په حد اقرار کوي خود مختاره به وي، هېڅ ډول جبر او اکراه به نه وي، خو د حقوق العباد (د غلا د استرداد) په اړه متأخرينو احنافو په زور او جبر اقرار معتبر بللی.[2]

همداسې فقهاء کرامو د حد په اقرار کې صراحت شرط کړی، چې ګواکي اقرار به صریح وي؛ نو د ګونګي اقرار په اشاره نه صحیح کېږي؛ ځکه د ګونګي په اشاره کې نور احتمالات ځایېږي، چې شبه راولي او حدود په شبهاتو نړېږي، همداسې د حد د اقامې لپاره سارق ته قسم نه ورکول کېږي؛ ځکه قسم مدعي علیه ته د نکول په موخه ورکول کېږي او نکول صریح اقرار نه دی او د حد د اقامې لپاره بسنه نه کوي. البته که د مسروق مال په موخه (چې حق العبد دی) قسم ورکړل شي او سارق نکول وکړي، ضمان پرې لازمېږي.[3]

او حد اقرار به ضرور په قضائي مجلس کې وي، که د سارق د انکار په صورت کې تر قضائي مجلس دباندې اقرار څوک په محکمه کې په شاهدانو ثابت کړي، په هغه سره حد نه ثابتېږي.[4]

همداسې یاد اقرار به د دعوی تر اقامې وروسته وي، د

---

۱ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۸۱): «(وأما) الإقرار فتظهر به السرقة الموجبة للقطع أيضا؛ لأن الإنسان غير متهم في الإقرار على نفسه بالإضرار بنفسه فتظهر به السرقة، كما تظهر بالبينة، وبل أولى؛ لأن المرء قد يتهم في حق غيره ما لا يتهم في حق نفسه».

۲ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۴/ ۳۳۳): «وَقَدْ أَفْتَى بَعْضُ مُتَأَخِّرِي الْحَنَفِيَّةِ بِصِحَّةِ إِقْرَارِ السَّارِقِ مَعَ الإِكْرَاهِ لأَنَّ السُّرَّاقَ قَدْ غَدَوْا لَا يُقِرُّونَ طَائِعِينَ.»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۳): «إذَا أَقَرَّ بِالسَّرِقَةِ مُكْرَهًا فَإِقْرَارُهُ بَاطِلٌ، وَمِنْ الْمُتَأَخِّرِينَ مَنْ أَفْتَى بِصِحَّتِهِ، كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ.»

۳ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۴/ ۳۳۳): «وَلَا يَكُونُ الإِقْرَارُ كَافِيًا لإِقَامَةِ الْحَدِّ، إِلاَّ إِذَا كَانَ صَرِيحًا وَتَبَيَّنَ الْقَاضِي مِنْهُ تَوَافُرَ أَرْكَانِ السَّرِقَةِ، بِحَيْثُ لَا تَبْقَى مَعَهُ أَيُّ شُبْهَةٍ.»

«وَيَشْتَرِطُ الْحَنَفِيَّةُ أَنْ يَكُونَ الْمُقِرُّ بِالسَّرِقَةِ نَاطِقًا، وَلِهَذَا فَإِنَّهُمْ لَا يَعْتَدُّونَ بِإِشَارَةِ الأَخْرَسِ، وَلَوْ كَانَتْ مُفْهِمَةً؛ لاِحْتِمَال إِشَارَتِهِ الإِقْرَارَ وَغَيْرَهُ، وَهَذَا يُورِثُ شُبْهَةً تَدْرَأُ عَنْهُ الْحَدَّ.»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۲): «وَلَوْ ادَّعَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ سَرِقَةً فَأَنْكَرَ يُسْتَحْلَفُ، فَإِنْ أَبَى أَنْ يَحْلِفَ لَمْ يُقْطَعْ، وَيَضْمَنُ الْمَالَ، وَلَوْ أَقَرَّ بِذَلِكَ إقْرَارًا ثُمَّ رَجَعَ عَنْ إقْرَارِهِ، وَأَنْكَرَ لَمْ يُقْطَعْ، وَيَضْمَنُ الْمَالَ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ.»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۸۱): «ولا تظهر السرقة بالنكول حتى لو ادعى على رجل سرقة فأنكر فاستخلف فنكل لا يقضى عليه بالقطع، ويقضى بالمال؛ لأن النكول إما أن يجري مجرى البدل، والقطع مما لا يحتمل البدل والإباحة، والمال يحتمل البدل والإباحة، وإما أن يجري مجرى إقرار فيه شبهة العدم؛ لكونه إقرارا من طريق السكوت لا صريحا، والشبهة تمنع وجوب الحد، ولا تمنع وجوب المال.»

۴ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۴/ ۳۳۳): «وَاشْتَرَطَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ أَنْ يَصْدُرَ الإِقْرَارُ عِنْدَ مَنْ لَهُ وِلَايَةُ إِقَامَةِ الْحَدِّ، فَلَا يُعْتَدُّ بِالإِقْرَارِ الصَّادِرِ عِنْدَ غَيْرِهِ، وَلَا بِالإِقْرَارِ قَبْل الدَّعْوَى.»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۵): «شَهِدَا عَلَى إقْرَارِهِ، وَهُوَ سَاكِتٌ، أَوْ مُنْكِرٌ لَا يُقْطَعُ».

دعوی د اقامې تر مخه اقرار د حد مثبت نه شي کېدلای. [۱]
او اقرار حجت قاصره دی، یواځې تر مقر پورې محدود دی، ځکه نو که یو سارق ووايي: ما او فلان دغه غلا وکړه، اوس که هغه بل سارق د ده د یادې خبرې تصدیق وکړي، پر دواړو حد جاري کېږي؛ ځکه تصدیق اقرار دی او که انکار وکړي او ووايي: ما غلا نه ده کړې او دغه مال زموږ خپل دی، په یاد صورت کې په یوه هم حد نه جاري کېږي او که ووايي: ما غلا نه ده کړې او یاد مال هم نه دی را معلوم چې د چا دی، په یاد صورت کې د طرفینو (رحمهما الله) په اند پر مقر حد جاري کېږي او پر منکر نه. [۲]

**د مقر سارق څخه استعلام:**

کله چې یو غل په غلا اقرار وکړي، نو قاضي صاحب به لاندې پوښتنې وکړي:

**د غلا د ماهیت په اړه،** چې غلا څه شی ده؛ ځکه غلا په نورو معناګانو هم استعمالېږي، لکه استراق السمع ...

که مسروق په قضائي مجلس کې حاضر نه وي، نو د مسروق **د جنس په اړه،** چې څه شی دې غلا کړي؛ ځکه د هر مال غلا حد نه واجبوي.

**د مسروق مال د کمیت په اړه،** چې څومره مال دې غلا کړی؛ ځکه تر نصاب په کم مال کې حد نه واجبېږي.

**د غلا د کیفیت په اړه،** چې څنګه دې غلا کړ؛ ترڅو معلومه شي چې د حرز څخه ده که څنګه.

**د ځای په اړه،** چې د کومه ځای څخه دې غلا کړ؛ ځکه که یې په دار الحرب یا دار البغي کې غلا کړې وي، حد نه واجبېږي.

**د مسروق منه په اړه،** چې له چا څخه دې غلا کړ؛ ځکه له ځینې خلکو څخه په غلا کې حد نه واجبېږي.

**د زماني په اړه به پوښتنه ورڅخه وکړي؛** ځکه که تقادم موجود وي حد ساقطېږي. [۳]

که یې په اقرار کې دا ټول شرطونه پوره شول، حد پرې جاري

---

۱ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۸۲): «وكذا اختلف في دعوى المسروق منه أنها هل هي شرط كون الإقرار مظهرا للسرقة كما هي شرط كون البينة مظهرة لها؟ قال أبو حنيفة، ومحمد - رحمهما الله - شرط حتى لو أقر السارق أنه سرق مال فلان الغائب لم يقطع ما لم يحضر المسروق منه، ويخاصم عندهما، وقال أبو يوسف الدعوى في الإقرار ليست بشرط، ويقطع حال غيبة المسروق منه.
(وجه) قوله: أن إقراره بالسرقة إقرار على نفسه، والإنسان يصدق في الإقرار على نفسه؛ لعدم التهمة، ولهذا لو أقر بالزنا بامرأة، وهي غائبة قبل إقراره حد كذا هذا، ولهما ما روي «أن سمرة - رضي الله عنه - قال للنبي - عليه الصلاة والسلام -: إني سرقت لآل فلان فأنفذ إليهم رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فسألهم فقالوا: إنا فقدنا بعيرا لنا في ليلة كذا فقطعه» فلولا أن المطالبة شرط ظهور السرقة بالإقرار لم يكن ليسألهم، بل كان يقطع السارق، ولأن كل من في يده شيء فالظاهر أنه ملكه.»

۲ - الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۱): «وَلَوْ أَقَرَّ أَحَدُهُمَا فَقَالَ سَرَقْت أَنَا، وَفُلَانٌ هَذَا الثَّوْبَ الَّذِي فِي أَيْدِيهِمَا ذَكَرَ مُحَمَّدٌ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - هَذِهِ الْمَسْأَلَةَ فِي الْأَصْلِ، وَجَعَلَهَا عَلَى وَجْهَيْنِ إمَّا أَنْ صَدَّقَهُ الْآخَرُ، وَفِي هَذَا الْوَجْهِ يُقْطَعَانِ بِالْإِجْمَاعِ أَوْ أَنْ كَذَّبَهُ الْآخَرُ، فَهُوَ عَلَى وَجْهَيْنِ الْأَوَّلُ أَنْ يَقُولَ لَمْ أَسْرِقْ أَنَا، وَالثَّوْبُ ثَوْبُنَا، وَفِي هَذَا الْوَجْهِ لَا قَطْعَ عَلَى وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْإِجْمَاعِ وَإِمَّا أَنْ يَقُولَ لَمْ أَسْرِقْ، وَلَا أَعْرِفُ الثَّوْبَ، وَفِي هَذَا الْوَجْهِ اخْتَلَفُوا قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ - رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى -: يُقْطَعُ الْمُقِرُّ، وَالْمُنْكِرُ لَا يُقْطَعُ إجْمَاعًا، كَذَا فِي الْمُحِيطِ .»

۳ - حاشية ابن عابدين = رد المحتار ط الحلبي (۴/ ۸۶): «وَسَأَلَهُمَا الْإِمَامُ كَيْفَ هِيَ وَأَيْنَ هِيَ وَكَمْ هِيَ؟) زَادَ فِي الدُّرَرِ: وَمَا هِيَ وَمَتَى هِيَ (وَمِمَّنْ سَرَقَ وَبَيَّنَاهَا) احْتِيَالًا لِلدَّرْءِ» الدر المختار: «(قَوْلُهُ وَسَأَلَهُمَا الْإِمَامُ كَيْفَ هِيَ) لِيَعْلَمَ أَنَّهُ أَخْرَجَ مِنْ الْحِرْزِ أَوْ نَاوَلَ مَنْ هُوَ خَارِجٌ وَأَيْنَ هِيَ لِيَعْلَمَ أَنَّهَا لَيْسَتْ فِي دَارِ الْحَرْبِ؟ وَكَمْ هِيَ لِيَعْلَمَ أَنَّهَا نِصَابٌ أَمْ لَا؟ (قَوْلُهُ زَادَ فِي الدُّرَرِ) نَقَلَهُ فِي الْبَحْرِ أَيْضًا عَنْ الْهِدَايَةِ وَقَالَ: السُّؤَالُ عَنْ الْمَاهِيَّةِ لِإِطْلَاقِهَا عَلَى اسْتِرَاقِ السَّمْعِ وَالنَّقْصِ مِنْ أَرْكَانِ الصَّلَاةِ، وَعَنْ الزَّمَانِ لِاحْتِمَالِ التَّقَادُمِ.

کېږي او که پوره نه شول، نو د مصلحت په وخت مناسب تعزیر ورکول کېږي.[۱]

**مقر سارق ته تلقین:**

او مستحبه ده چې امام یا قاضي سارق ته تلقین ورکړي، ترڅو اقرار و نه کړي او مقر سارق ته تلقین ورکړي، ترڅو رجوع وکړي، که یې رجوع وکړه په قطع کې یې رجوع صحیح ده، البته په مسروق مال کې یې رجوع نه صحیح کېږي، هغه به (که قائم وو) خپل مالک ته ردوي او که یې تلف کړی وو، ضمان به یې ورکوي.[۲]

**د مقر سارق رجوع:**

په حقوق الله کې (لکه حدود ... ) د اقرار څخه رجوع صحیح کیږي، ځکه نو که یو سارق یو ځل په غلا اقرار وکړي وروسته بېرته رجوع وکړي، حد ورڅخه ساقطېږي، خو د مسروق مال ضمان پرې لازمېږي.[۳]

**د حد د اجراء څخه د سارق تېښته رجوع ده:**

که په غلا مقر سارق د حد د اجراء په وخت وتښتي، دا یې رجوع ده، څوک به نه ورپسې ځي، تر څو یې بېرته د حد اجراء ته راولي، البته که غلا په شاهدانو ثابته شي هغه به د حد د اجراء لپاره بېرته را وستل کېږي.[٤]

**په قرائنو د حد اثبات:**

د جمهورو فقهاء کرامو په اند په قرائنو (که څه هم قاطعه وي) د حد اثبات نه کېږي؛ بلکه د حد اثبات یواځې په شاهدانو او په اقرار کې حصر دی.[٥]

---

زَادَ فِي الْكَافِي أَنَّهُ يَسْأَلُهُمَا عَنْ الْمَسْرُوقِ، إذْ سَرِقَةُ كُلِّ مَالٍ لَا تُوجِبُ الْقَطْعَ (قَوْلُهُ وَمِمَّنْ سَرَقَ) لِيَعْلَمَ أَنَّهُ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ أَمْ لَا».

۱ - الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۱): «السَّرِقَةُ إنَّمَا تَظْهَرُ بِأَحَدِ الْأَمْرَيْنِ إمَّا بِالْبَيِّنَةِ، أَوْ بِالْإِقْرَارِ، فَإِنْ كَانَ ظُهُورُهَا بِالْإِقْرَارِ، فَالْقَاضِي يَسْأَلُهُ عَنْ مَاهِيَّةِ السَّرِقَةِ، فَإِنْ بَيَّنَ ذَلِكَ فَالْقَاضِي يَسْأَلُهُ عَنْ الْمَسْرُوقِ إذَا لَمْ يَكُنْ مَالًا لَا يَجِبُ الْقَطْعُ بِسَرِقَتِهِ، فَإِنْ بَيَّنَ جِنْسَ الْمَالِ يَسْأَلُهُ عَنْ مِقْدَارِ الْمَالِ، وَهَذَا إذَا كَانَ الْمَسْرُوقُ غَائِبًا عَنْ مَجْلِسِ الْقَضَاءِ فَإِنْ كَانَ حَاضِرًا فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ، وَيَدَّعِيهِ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ، فَأَقَرَّ السَّارِقُ فَالْقَاضِي لَا يَحْتَاجُ إلَى السُّؤَالِ عَنْ الْمَسْرُوقِ، وَعَنْ مِقْدَارِهِ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إلَى الْمَسْرُوقِ فَإِنْ أَمْكَنَ إيجَابُ الْقَطْعِ بِسَرِقَتِهِ، أَوْجَبَهُ، وَمَا لَا فَلَا، ثُمَّ يَسْأَلُهُ كَيْفَ سَرَقَ ثُمَّ يَسْأَلُهُ عَنْ الْمَكَانِ، وَلَا يَسْأَلُهُ عَنْ الْوَقْتِ، وَإِنْ احْتَمَلَ تَقَادُمَ الْعَهْدِ ثُمَّ يَسْأَلُهُ عَنْ الْمَسْرُوقِ مِنْهُ، فَإِذَا بَيَّنَ ذَلِكَ الْآنَ يَقْضِي الْقَاضِي عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ، وَيَكْتَفِي بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً، وَاحِدَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ - رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى - كَذَا فِي الْمُحِيطِ.»

۲ - الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۱): «وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ حَتَّى لَا يُقِرَّ بِالسَّرِقَةِ، كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ، وَيَنْبَغِي أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ احْتِيَالًا لِلدَّرْءِ، وَإِذَا رَجَعَ عَنْ الْإِقْرَارِ صَحَّ فِي الْقَطْعِ، وَلَا يَصِحُّ فِي الْمَالِ، كَذَا فِي الِاخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ.»

۳ -الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۵): «قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - فِيمَنْ ادَّعَى عَلَى سَرِقَةٍ، وَأَنْكَرَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ: يُسْتَحْلَفُ، وَإِنْ نَكَلَ يُقْضَى عَلَيْهِ بِالْمَالِ دُونَ الْقَطْعِ، كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ، وَكَذَا لَوْ رَجَعَ عَنْ الْإِقْرَارِ.»

۴ - الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۳): «إذَا أَقَرَّ بِالسَّرِقَةِ ثُمَّ هَرَبَ لَا يُتْبَعُ، وَإِنْ كَانَ فِي فَوْرِهِ بِخِلَافِ مَا إذَا شَهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُودُ بِالسَّرِقَةِ ثُمَّ هَرَبَ فَإِنَّهُ يُتْبَعُ فِي فَوْرِهِ، وَيُقْطَعُ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ.»

۵ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الحدود، فصل في بيان ما تظهر به الحدود عند القاضي (۴۶/۷): «وأما بيان ما تظهر به الحدود عندالقاضي فنقول- وبالله التوفيق: الحدود كلها تظهر بالبينة والاقرار، لكن عند استجماع شرائطها»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب السرقة، فصل في بيان ما تظهر به السرقة عندالقاضي (۸۱/۷): «وأما بيان ما تظهر به السرقة عندالقاضي فنقول: -ولالله التوفيق- السرقة الموجبة للقطع عند القاضي تظهر بأحد أمرين: أحدهما: البينة، والثاني: الاقرار».



## د ســــــترې مــــحکمې د حــــــقوقو
## له عمومي رئیس سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

له اسلامي عدالت خپرونې سره د حقوقو عمومي ریاست رئیس محترم الحاج مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحفاظ) صاحب مرکه.

⭑د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئیس محترم مفتي ابراهیم جان (ابوالحفاظ) صاحب، له هر څه وړاندې درته اسلامي عدالت خپرونې ته نبوي تحفه السلام علیکم و رحمة الله و برکاته، وړاندې کوو او ډېره مننه کوو چې له ډېرو بوختیاوو سره سره مو موږ ته د دې خپرونې لپاره وخت راکړ.

مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحفاظ) صاحب الحمد لله وکفی والسلام علی عباده الذین اصطفی أما بعد: فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم ، بسم الله الرحمن الرحیم - قال الله تعالی: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ۸۸۱].

محترمه اول تاسو ته، ستاسو همکارانو ته او بیا د دې خپرونې ټولو لوستونکو او کتونکو ته د زړه له تله و علیکم السلام و رحمة الله و برکاته او احترامات وړاندې کوم او له تاسو څخه مننه کوم چې موږ ته مو د ګډون دا فرصت برابر کړ.

**۱- پوښتنه:** محترم مفتي صاحب په پیل کې که د اسلامي عدالت خپرونې لوستونکو ته د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست په اړه لنډ معلومات ورکړئ؟

**ځواب:** قدرمنه ستاسې د پوښتنې په ځواب کې باید عرض وکړم چې د حقوقو عمومي ریاست چې د سترې محکمې تر چتر لاندې فعالیت کوي په خپل تشکیل کابل ولایت کې ریاست او نورو ۳۳ ولایتونو کې د حقوقو آمریتونه، د هېواد په ټولو ولسوالیو کې د حقوقو مدیریتونه لري.

د حقوقو عمومي ریاست اړوند ټولې ماتحت ادارې په پیل کې هڅه کوي چې د عریضې تر ثبت او لازمي اقداماتو وروسته د هېوادوالو ترمنځ د اصلاح او جوړجاړي له لارې حقوقي مسایل او ستونزې د سولې له لارې حل او فصل کړي؛ خو که د قضیې ښکېل اړخونه د سولې پر ځای محکمه غواړي بیا موضوع ذی صلاح محکمې ته سپاري او ورسره هم مهاله د محاکمو د قطعي پرېکړو د تطبیق او تنفیذ وظیفه په غاړه لري.

**۲- پوښتنه:** محترم مفتي صاحب د حقوقو عمومي ریاست له عدلیې وزارت څخه جلا او په ستره محکمه پورې وتړل شو، که زموږ لوستونکو ته د دغه اقدام د اړتیا په اړه وواياست او تېرو څو کلنو تجربو ته په کتو دغه اقدام څومره ګټور ثابت شوی دی؟

**ځواب:** دا چې د حقوقو عمومي ریاست او د هغه اړوند ادارو ډېر فعالیتونه لکه: د دعوو ارزونه، د اصلاح او جوړجاړي له لارې د حقوقي ستونزو او دعوو حل یا محکمې ته سپارل او د محکمو د قطعي فیصلو تطبیق مستقیماً له محاکمو سره تړلي دي؛ نو ځکه دا منطقي وه چې دا کار باید شوی وای.

او له کوم وخت راهیسې چې د حقوقو عمومي ریاست د مشرتابه په حکم د عدلیې وزارت له چوکاټ او تشکیل څخه راجلا په ستره محکمه پورې تړل شوی، د کارونو په چټک تصمیم او ښه تنظیم کې د پخوا په پرتله بې‌ساري پرمختګ شوی او پر محاکمو هغه کاري تراکم په لویه کچه راکم شوی چې له امله به یې پرېکړې ځنډېدې او د حقوقو په ترلاسه کولو کې مراجعین له ستونزو سره مخ کېدل؛ بناءً ویلی شو چې په ټوله کې دا یو پرځای، سنجول شوی او ګټور اقدام و چې د هېواد د قضائي نظام لپاره په ګټه تمام شوی دی.

**۳- پوښتنه:** د خپرونې په دې برخه کې که د سترې محکمې په تشکیل کې د حقوقو عمومي ریاست د ارزښت په اړه معلومات راکړئ، ستاسو په نظر دغه ریاست د سترې محکمې په تشکیل کې څومره مهم او اړین دی؟

**ځواب:** د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې تر چتر لاندې یو مهم ریاست دی، چې د هېوادوالو د حقوقو د خوندیتوب لپاره کار کوي او د شرعي نظام په حاکمیت او تطبیق کې مهم او رغنده رول لري.

**۴- پوښتنه:** مفتي صاحب محترم په ټوله کې د حقوقو عمومي ریاست عمده مسؤولیتونه څه دي او کومې مهمې دندې ترسره کوي؟

**ځواب:** د حقوقو عمومي ریاست او د هېواد په کچه ورسره تړلې ادارې حقوقي دعوو ته رسېدنه کوي او تر ډېره بریده تجارتي، املاکي او فامیلي موضوعات د اصلاح او جوړ جاړي له لارې حل او فصل کوي، تر څو د خلکو حقوقي ستونزې بې له کوم ځنډه په سوله‌ییزه توګه هوارې وي او د محاکمو څخه د کار د تراکم کچه کمه وي.

او که احیاناً د حقوقو په اداره کې کومه ستونزه د جوړ جاړي له لارې حل نشي او قضائي حکم ته اړتیا رامنځته شي، د حقوقو اداره ورته دوسیه ترتیبوي او محاکمو ته یې د قضائي حکم لپاره لېږي. دغه راز د حقوقو ادارې د محاکمو د قطعي او نهائي فیصلو د تطبیق مسؤولیت هم پرغاړه لري.

**۵- پوښتنه:** محترم مفتي صاحب که د اسلامي عدالت خپرونې مینوالو ته د حقوقو عمومي ریاست د تشکیل په اړه معلومات ورکړئ؟ آیا د حقوقو عمومي ریاست په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې فعالیت لري؟ که فعالیت لري د ولایتونو په کچه د دوی صلاحیتونه او عمده دندې څه دي؟ آیا د محاکمو د پرېکړو د تطبیق په موخه د حقوقو عمومي ریاست څخه هدایت اخلي او که دوی خپله دا صلاحیت لري؟

**ځواب:** د حقوقو عمومي ریاست په ټول هېواد کې فعالیت لري، د کابل ولایت لپاره د حقوقو ریاست لري چې یواځې د همدې ریاست تشکیل شاوخوا (۵۱۰) کسان دي او له کابل پرته د نورو ولایتونو په مراکزو کې د حقوقو آمریتونه لري، چې د هر ولایت نفوس او کاري تراکم ته په کتلو ورته مناسب تشکیل ور کړل شوی، دغه راز په هره رسمي ولسوالۍ کې د حقوقو مدیریتونه پورتني مسؤولیتونه او فعالیتونه مخته وړي، چې هغه هم د هرې ولسوالۍ د کارونو د ډېرښت او کمښت په تناسب ورسره وړ تشکیل ور کړل شوی، چې ان شاء الله د مراجعینو مشکلاتو ته تر ډېره بریده بسنه کوي.

او د حقوقو د عمومي ریاست اړوند ټولې ادارې خپل

مسؤولیتونه په خپله سرته رسوي، که کومه ستونزه را منځته نشي، هغوی د خپل ترتیب او نظم او صلاحیت له مخې خپل فعالیت کوي، د محاکمو د پرېکړو په تطبیق او نورو روانو چارو کې د حقوقو د عمومي ریاست هدایت ته په انتظار نه وي.

**٦- پوښتنه:** محترم مفتي صاحب که د حقوقو عمومي ریاست ته د دوسیو د راجع کولو او په دغه ریاست کې دوسیو ته د رسېدنې بهیر په اړه خلاصه معلومات راسره شریک کړئ؟

**ځواب:** د حقوقو د عمومي ریاست تر چتر لاندې ټولو ادارو ته تر هرڅه وړاندې د مراجعینو لخوا د ستونزو د هواري او د خپل حق د ترلاسه کولو په موخه حقوقي عرایض وړاندې کېږي، د حقوقو اداري هغه عرایض چې پر شرایطو برابرې وي او ورسره مل اسناد ثبتوي، وروسته معروض علیه را جلبوي او بیا طرفینو ته استعلامونه ورکوي، تر څو یې د حق په ورکړه قانع کړي، که سره قانع نشي، ترمنځ یې جوړجاړی رامنځته کیږي او که طرفین د حقوقو د کارکوونکو یا نورو مصلحینو له لوري د صلحې په ترغیب خپل منځي ستونزه حل نه کړي، له دې وروسته یې دوسیه ترتیب او اړوند محکمې ته لېږل کېږي.

نو ویلای شو چې دوسیه د حقوقو له خوا محکمې ته لېږل کېږي، نه دا چې له محکمې یا بل ارګان څخه حقوقو ته وړاندې شي، البته حقوقي دوسیې د محاکمو له پرېکړو وروسته د تطبیق په موخه د حقوقو ادارو ته راځي او د محکمې د پرېکړې مطابق د حقوقو د اداري له خوا تطبیق کېږي.

**٧- پوښتنه:** مفتي صاحب که د دوسیې یو لوری د محکمې د پرېکړې تطبیق ته نه حاضرېږي، آیا حقوقو عمومي ریاست د محکمې پرېکړه د دوی په نه موجودیت کې تطبیقوي او که څنګه؟

**ځواب:** کله چې دوسیه د حقوقو یوې اداري ته د تطبیق په موخه رسېږي، د طرفینو په راغوښتلو سره محکوم علیه ته د محکمې د حکم د تطبیق ابلاغ کېږي، چې په خپله خوښه یې پر ځان تطبیق کړي، که احیانا محکوم علیه د محکمې له حکم څخه سرغړونه کوي یا د حقوقو اداري ته نه حاضرېږي د درې جلبونو ورپسې لېږلو وروسته د هغه د منقولي او غیر منقولي شتمنیو د راسپړلو او تثبیت اقدام کېږي، د محکوم علیه د یو ډول نه یو ډول شتمنیو د تثبیت وروسته د تطبیق هیئت له اړوند محکمې څخه د محکوم علیه د شتمنۍ د پلور جواز ترلاسه کوي او د هغه دغه شتمني د علني داوطلبۍ او مزایدې له لارې خرڅېږي او د محکوم له حق ترې ورکول کېږي.

**٨- پوښتنه:** قدرمن مفتي صاحب د اسلامي عدالت خپرونې په وروستیو کې هېوادوالو ته څه پیغام لرئ؟

**ځواب:** هېوادوالو ته مې پیغام دادی چې لکه څنګه چې هر مسلمان د شریعت په ټولو احکامو مکلف دی، بیا په ځانګړې توګه په حقوق العباد کې، ځکه چې تېروتنه یې په اسانه نه بخښل کېږي؛ نو باید په اول قدم کې دوی خپله هره معامله د الله تعالی د رضاء په خاطر پر شریعت برابره او د اسلامي اصولو سره سمه مخته یوسي، لکه څنګه چې قرآنکریم یې په اړه امر کوي چې که په پور راکړه ورکړه کوئ؛ نو ویې لیکئ او شاهدان ورباندې ونیسئ، یا یې په بدل کې یو شی په ګروی ونیسئ.

